

Download from:aghalibrary.com

هلمند پوله په پوله




لیکوال
الحاج محمد اسماعیل شریعتیار

صدیقي خپرندویه ټولنه کوټه

بسم الله الرحمن الرحيم

هلمند پوله په پوله



لیکوال

الحاج محمد اسماعیل
(شریعت یار)

صدیقي خپرندویه ټولنه

کتاب پېژندنه :

دکتاب نوم : هلمند پوله په پوله .

لیکوال : الحاج محمد اسماعیل (شریعت یار)

کمپوزر : پخپله لیکوال

تصحیح اوسمون : //

دکتاب شمېر : ۱۱۰۰ټوکه

دچاپ کال : (۲۰۱۲ع)

خپرندوی : صدیقي خپرندویه ټولنه

پته : صدیقي کتب خانه کاسي روډ کوټه
صدیقي کتب خانه ارګ بازارکندهار

پاملرنه : ددې کتاب ټول حقوق له خپرندوی ټولنې سره خوندي دي .

تقریظ.....(۱)
د پیل خبري.....(۱۰)
په پرونی اریانا کي د هلمند موقعیت.....(۱۱)
هلمند په اسلامي دوره کي.....(۱۲)
لاندي مهم ټکي هم باید په پام کي و نیول سي.....(۱۴)
لښکرګاه.....(۱۵)
دلښکرګاه ښاراو ورپوري ترلي سیمو لنډه پیژندنه.....(۱۷)
دښاردننه اوسنی مشهوري سیمي او موقعیتونه.....
مسجدونه چي زیات مشهور دي.....(//)
دلښکرګاه ښارمشهورموقعیتونه.....(۱۸)
(د صافیانوسیمه)، دلښکرګاه ښارمهمي ودانی.....(۲۰)
دلښکرګاه ښارمهم اومشهور چوکونه.....(۲۱)
دلښکرګاه ښارمشهوري اورسمي جادې.....(//)
دلښکرګاه ښارلوبغالي اومشهورپارکونه.....(۲۲)
دلښکرګاه ښارمشهوربازارګوتي.....(//)
دلښکرګاه ښار مقدس زیارتونه.....(//)
دلښکرګاه ښار مهمي اومشهوري هدیري.....(۲۳)
دلښکرګاه دښاردخلګوپه هکله لنډ معلومات.....(//)
دلښکرګاه ښارپوري ترلي دخشک ابې سیمه.....(۲۴)
باندنی څلورخواوي بې.....(//)
سیمه ایزي څلورخواوي بې.....(//)
اوله کیسه.....(۲۵)
دوهمه کیسه.....(//)

دلښکرګاه ښارپوري ترڅې دسرکارسيمه.....(۲۶)
باندنی ځلورخواوي بې.....(//)
سيمه ايزي ځلورخواوي بې.....(//)
دلښکرګاه ښارپوري ترڅې دالعسکر(ختيځ لښکري بازار)سيمه.....(۲۷)
دلښکري بازارباندنی ځلورخواوي.....(//)
سيمه ايزي ځلورخواوي بې.....(//)
مشهوره مشران بې.....(۲۸)
مشهوره عالمان بې.....(//)
مشهوره زيارتونه بې.....(//)
مشهوره هديره بې.....(۲۹)
باباجي(باباحاجي).....(//)
باندنی ځلورخواوي بې.....(۳۰)
سيمه ايزي ځلورخواوي بې.....(//)
چاه انجيردلښکرګاه ښارپوري ترڅې سيمه.....(//)
ددې وطن مشهورکلي.....(//)
مشهورشخصيتونه بې.....(//)
دچاه انجيرمشهوره عالمان اوروحانيون.....(۳۱)
ژوندي اوسيدونکي مشهورشخصيتونه بې.....(//)
ځلورخواوي بې.....(۳۲)
بشران.....(//)
باندنی ځلورخواوي بې.....(//)
سيمه ايزي ځلورخواوي بې.....(//)
دبشران مشهورولیان اوزيارتونه.....(۳۳)

بولان ..... (//)
باندنی ځلورخواوي بې ..... (//)
سیمه ایزي ځلورخواوي بې ..... (۳۴)
ددې سیمې مشهوري ځیرې ..... (//)
دکاریزسیمه ..... (//)
باندنی ځلورخواوي بې ..... (۳۵)
سیمه ایزي ځلورخواوي بې ..... (//)
مشهورشخصیتونه بې ..... (//)
دکاریزمشهورکلي په لاندې ډول دي ..... (۳۶)
مشهورزیارتونه بې ..... (//)
بُست ..... (//)
باندنی ځلورخواوي بې ..... (//)
سیمه ایزي ځلورخواوي بې ..... (//)
مشهوري ځیرې بې ..... (۳۷)
دبُست مشهورکلي ..... (۳۹)
دبُست مشهوري هدیرې ..... (//)
دبُست تاریخي ځایونه ..... (//)
دګرشک ولسوالي ..... (۴۰)
سیمه ایزي ځلورخواوي ..... (۴۱)
مشهورشخصیتونه ..... (//)
مشهوري هدیرې ..... (۴۲)
مشهورزیارتونه ..... (//)
دګرشک بنارمشهور مسجدونه- ..... (//)

دګرشک ښارمشهوردموټرانو تم ځایونه .....(۴۳)
دګرشک ولسوالی مشهوري کلاوي اوبیلابیل معلومات .....(//)
دنادعلي ولسوالي .....(۴۵)
باندنی ځلورخواوي .....(//)
سیمه ایزي ځلور خواوي .....(//)
مشهورکلي .....(۴۶)
مشهور اومخور خلګ ئي .....(//)
مهم بازار ګوتي .....(۴۷)
د سنګین (سروان کلا) ولسوالي .....(۴۸)
دسنګین (سروان کلا) باندنی ځلورخواوي .....(//)
سیمه ایزي ځلور خواوي یې .....(۴۹)
دسنګین (سروان کلا) زیارتونه .....(۵۰)
مشهور غرونه یې .....(۵۱)
مشهوري هدیرې .....(//)
د ناوې ولسوالي .....(۵۱)
دناوې باندنی ځلورخواوي .....(۵۲)
سیمه ایزي ځلورخواوي .....(۵۳)
دناوې مشهور کلي .....(//)
دناوې مشهورشخصیتونه .....(//)
دناوې مشهور زیارتونه .....(۵۴)
دناوې مشهوري هدیرې .....(۵۵)
دکجکي ولسوالي .....(۵۶)
باندني ځلور خواوي یې .....(//)

سیمه ایزي څلور خواوي یې ..... (۵۷)
مشهور وطنونه یې ..... (//)
مشهوري تاریخی څیری اونامداره شخصیتونه ..... (//)
دکجکي ولسوالی مهم بازارګوتي ..... (۶۰)
دبرق فابریکه اوداوبوبند ..... (//)
دمارجي ولسوالي ..... (۶۱)
باندنی څلورخواوی ئی ..... (//)
سیمه ایزه څلورخواوی یې ..... (۶۲)
مشهوري سیمی اوکلي یې ..... (//)
مشهور ځایونه چی په بلاک شهرت لري ..... (//)
مشهوری څیري ئې ..... (//)
موسي کلا ولسوالي ..... (۶۳)
سیمه ایزي څلور خواوي یې ..... (۶۴)
مشهور کلي یې ..... (//)
مشهور شخصیتونه یې ..... (۶۵)
دموسي کلاه مشهوري هدیري ..... (۶۷)
سیند او ماندونه یې ..... (//)
مشهور غرونه یې ..... (//)
ددیشوولسوالي ..... (۶۸)
څلور خواوي یې ..... (//)
سیمه ایزي څلور خواوي یې ..... (//)
مشهوري څیري یې ..... (۶۹)
مشهور زیارتونه یې ..... (۷۰)

دباغران ولسوالي ..... (//)
باندنی څلورخواوي ئې ..... (۷۱)
مشهوری څیری ئی ..... (۷۲)
مشهوري هدیرې ئې ..... (۷۴)
مشهور زیارتونه ..... (//)
مشهوري ډرې ئې ..... (۷۵)
مشهورغرونه ئې ..... (//)
مشهوری چینې یې ..... (//)
دنوزاد ولسوالي ..... (//)
باندینی څلور خواوي یې ..... (//)
مشهور کلي ..... (۷۶)
مشهوري تاریخي څیري ..... (۷۷)
دګرم سیر ولسوالي ..... (۷۹)
باندنی څلورخواوي یې ..... (//)
سیمه ایزي څلورخواوي یې ..... (//)
مهم اومشهور کلي یې ..... (//)
دلکي سیمه ..... (۸۰)
مهمي کلاوي ..... (۸۳)
مهمي ویالې ..... (//)
مهمي هدیرې ..... (//)
مشهورښارګوټي اوښارونه ..... (۸۴)
دخانشین ولسوالي ..... (//)
باندنی څلورخواوي ..... (//)

مشهور کلي يې ..... (//)
مشهورشخصيتونه يې ..... (۸۵)
مشهوري کلاوي يې ..... (۸۶)
دواشيرولسوالي ..... (۸۷)
مشهوره کلئ ..... (۸۸)
مشهورخلک ئی ..... (//)
مشهوری هديری ..... (۸۹)
مشهورزيارتونه ..... (//)
مشهوری کلاکانی يې ..... (//)
مشهورغرونه ئی ..... (//)
اختيتاميه ..... (//)
فرهنگي پرمختياوي:- ..... (۹۰)
په هلمند کي ږغيزي رسنی:- ..... (۹۲)
دلومړی برخي دوهمه برخه ..... (//)
مذهبي ورځي اومراسم ..... (۹۳)
دوديزاومشهورنومونه اولنډ تعريف يې: ..... (۹۶)
اخترونه: ..... (۹۷)
مهر(ولور): ..... (۹۸)
بابيړی: ..... (//)
طلاق:- ..... (۹۹)
دکتاب په ځينوځايونوکي دځان لخواعذرورانديکول ..... (۱۰۰)

تمت بالخير

تقریظ

ددې اثر اړتیا:

مخکې له دې چې ددې اثر پر ارزښتونو وږغیږو، یو څه به ددې سیمې پر تاریخي، جغرافیایي، او فرهنګي حالت رڼا واچوو.

دنړۍ تاریخونو او لرغون پلټونو دا ښوولې ده چیرې چې سیندونه وي هلته مدنیتونه زېږېدلي. چې هلمند سیند هم دسیحون(آمو) نیل، دجلې او فرات چې په منځ کې یې بین النهرین مدنیت رامنځ ته سوی دی، دهند سمندر او نور په څېر یو مدنیت زېږنده سیند دی، چې ورسره دا ښېرازه سیمه هم دهمدې له برکته ډک سیند له امله په همدې نامه نومول سوې ده.

دا سیمه په تاریخونو کې ددره نیل، مصر ثاني او اسیا دګدام په نوم یاده سوې ده[۱] او دهلمند سیند دغاړې اوسیدونکي توانګر او غښتلي بلل سوي او دا سیمه دهلمند په اسطوریي او مستند تاریخ کې دغښتلو، پهلوانانو او کروړیانو په نامه یاده سوې ده. کله چې موږ وایو چې دهیتومنت (هیرمند، هلمند) دبخدي(باختر، بلخ)سره همزولی تاریخي شالید لري ددې خبرې دلیل داکېدایسي چې هلمند سیند هم دآمو دسیند په څېر دهیواد دلویو سیندونو څخه دی، او دلته شېږزره کاله پخوا هلمندیانو دخپل لاس ننبې او دلرغوني تمدن بیلګې پرې اینبې دي. دتاریخي روایتونو له مخې چې هلمند سیند یو وخت دګرش او دکشک نخود(کشک الرخج) په منځ کې دمنډیګک په څنګ کې بهېدی چې ۱۵۰۰ یا دوه زره کاله تر میلاد مخکې بیا دهلمند سیند مخه دګرش خواته اړولې او دمنډیګک داوسېدونکو ژوند هلته سخت سوی او نورو ځایو ته کوچېدلي دي.[۲]

---

۱. ډاکټر اکاډمیسن محمد اعظم سیستانی، سیستان سېرزمین ماسه ها وحماسه ها، لومړی ټوک، دعلومو اکاډمی، چاپ، کال ۱۳۶۶، مخ ۱.

۲. پوهاند محمد رسول باوري، باستان شناسي مدنیت های اولیه(دوره انتیک) افغانستان، انتشارات امیري، صفحه ۱۲.

دسوئلي ښار (شهر سوخته) او هلمند سيند پر غاړه چي کومي کيندني سوي دي، او ورسره شپږزره کاله پخوا کوم زاړه لوښي او وسپنيز توکي په لاس راغلي دي ټول ددې څرګندونه کوي چي دهلمند پخواني اوسېدونکي دهېري او مفرغ(اوسپني) له عصره څخه چې د(۴۰۰۰ قبل الميلاد شاوخوا) مخکې يې وخت اټکل کيږي، په بزګرۍ او مالدارۍ بوخت وه.[۳]

سيستان چي دهلمند پوه ښکلي سيمه ده، په تاريخونو کي هلمند زېرنده بلل سوې ده. لکه څنګه چې يې مصر دنيل دسيند څخه زېرنده بللی دی، او ويل سوي چي نيل سيند چي دايتوپيا له غرونو سرچينه اخلي اوهلمند سيند بيا په خپل وار دبابا دغره له برکته بهيږي؛ د مصر دښيرازې او ابادۍ مايه نيل دی همدا ډول هلمند سيند هم سيستان ته دژوند او حيات ورکولو مايه بلل کيږي، يعني که هلمند سيند نه واى سيستان به وجود نه درلودای، ځکه يې نو سيستان دهلمند مولود(زېرنده) بللی دی.[۴]

دهلمند لوی سيند دختيځو سيندونو له ډلې څخه په اسياکې يو له برکته ډک سيند دی چې په کال کې ملياردونه مکعب متره او به پکښې رواني وي، اوږدوالی يې(څوارلس سوه کيلومتره) دی او دفرات او سند په منځ کې له ډيرو اوږدو سيندونو څخه شميرل کيږي.[۵] په اوستا کې ددې سيمې نوم هيتومنت[۶] راغلی دی، چې مانايې د(بندونو درلودونکی = يا پرتمين) ده. همدا ډول دبندهش[۷] په کتاب شلم فصل(۲۱، ۱۷، ۱۲ او ۲۲) برخو کې ددې سيند يادونه سوې ده.

---

[۳] نور الله تالقاني، افغانستان ماقبل آريايي ها، چاپ کال ۱۳۶۱، مخ ۶۲.

[۴] کانديد اکاديمسن محمد اعظم سيستاني، سيستان قبل از اسلام، دعلومو اکادمي، چاپ کال ۱۳۶۴، لومړی ټوک، مخ ۱۲.

[۵] GOOGLE، ويکي پيديا

[۶] Haetumant

[۷] دبندهش کتاب په پهلوي ژبه کښل سوی، ويل کيږي چې دليکلو وخت يې (۲۵۰ هجري) شاوخوا د(قرنېځ) په لاس ليکل سوی دی.

داسدي په ګرشاسپ نامه کي ددې سيند نوم داسي راغلی:دومنز تالب هيرمندبه آب خوش وبي تسه؟ وکشمند.

ابو القاسم فردوسي په څلورمه هجري پيړۍ کي وايي

چو آمد به نزديکي هيرمندفرستاده ای برګزيد ارجمند. قطران تبريزي وايي:ازدست او شکوه برد(نيل) و(هيرمند)وزتيغ او ستوده شود پيل واژدها.

استادعنصري وايي

بغر توشد خوب همچو عقد بدرهوای بست ولب هيرمند ودشلکان دهلمند نوم دزردښت له کتاب اوښتا څخه وروسته په شاوخوا ټولو، تاريخي نسخو کي ،لکه بندهش،دينکر،اياتګارزريران ، ويدا، سنسکريټ ، بندهش، ، مينوی خرد، فردوسي په شاهنامه او داسي نور بې شمېره تاريخي متنونو کي يې دنامه څرک سته.[۸]

دهلمند نوم په تاريخي متنونو کي په مختلفو بڼو راغلی لکه: هيتومنت(په اويستاکي)، ايتا مندروس(په يو ناني نسخو کي)، هيرمند= هنرمند =هذمذ داسلامي دورې په نسخو او متنو کي راغلی چې اوسنی بڼه يې هيلمند او هلمند ده اوس به دهلمند له څو درنو لرغونو کورنيو ياد را وسپړو.

کياني کورنۍ

هلمند دلرغوني تمدن ځانګو ده. هلمند دکيانيانو تاټوبی او دوی په خپل وار د شاهنامې قهرمانان بلل سوي دي.

دزردښتي مذهبي روايانو له مخې لکه(اويستا) او نورو پخوانيو او زړو نسخو لکه، دنيکو، بندهش ياتکار زريران او نور پهلوي زاړه ا ثار بيا تر

---

[۸] کانديد اکادميسن محمد اعظم سيستانی، سيستان سر زمين ماسه ها و حماسه ها(سيستان بعد از اسلام)، اکادمی علوم، کال ۱۳۶۶، صفحه ۵۲.

اسلامي دوري پوري لکه دفردوسي شاهنامه، بانو ګشسپ نامه ګرشاسپ نامه او داسي نورو څخه څرګندیږي چي دکیانیانو سلطنت تر کیخسرو وروسته مستقیماً په هلمند او سیستان پوري اړه پیدا کوي[۹] دانبیرازه سیمه دهلمند سیند له برکته دکیانیانو اصلي ټاټوبی او هلمند دکیانیانو وطن بلل سوی او پیژندل سوی دی.

د(کي= کوي) کلمي وړدي او اویستایي کلمې دي چي دټولواک، لوی پاچا، پوه او امیر په مانا دي.

کیاني کیانیان یوه کورنۍ ده چي دپاچهۍ لړۍ یې له بخدي څخه پیل او بیا تر هلمند غاړو پوري راورسېدل، داویستا دیادښتونو له مخي چي ددې کورنۍ لومړنی ټولواک کواته[۱۰](کیقباد)ؤ.

نوموړی درستم پهلوان دپلار په غوښتنه د البرز په غره کي دپاچهۍ پر تخت کښیناست او (۱۵) کاله یې پاچهۍ وکړه. ددې کورنۍ دنور پاچهانو نومونه دادي: کي اپیوه، کي ارتین، کي بیرشن، کي پښن، کوي او سن یاکیکاوس، کوي سیاورشن یا سیاوش، هوسروا(کیخسرو) چي خپل دښمن افراسیاب توراني یې وواژه.[۱۱]

په هغه لومړی لاس تاریخي نسخو او کتابو کي چي مخکي یې یادونه وسوه، دکیاني کورنۍ دپیژندلو لپاره جلا څېړکي نومول سوي دي دفردوسي په شاهنامه کي دکیانیانو تاریخ ته (۲۷۰۰۰) اوه ویشت زره بیته څانګړي سوي دي.[۱۲]

---

[۹] محمد اعظم سیستانی، سیستان قبل از اسلام و علومو اکادمي، کال، ۱۳۶۴، لومړی ټوک، مخ ۸۵.

[۱۰] Kavata

[۱۱] پښتو - پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک، علومو اکادمي، دویم چاپ دمیدیوټیک لخواکال ۱۳۸۳، مخ(۲۶۷۳).

[۱۲] آرتورکرسټن، ګیانیان، ژباړن ذبیح الله صفا، کال ۱۳۸۱ شپږم چاپ، شرکت انتشارات علمي وفرهنګي، صفحه ۱۱۷.

څه وخت چې مور وايو چې هلمند له بلخ سره همزولی تاریخي شالید لري، هغه ځکه چې په آریانا(افغانستان) کې دکومو درو لویو کورنیو پارادادا(= پیشدادیان)، کوي، کې(=کیانیان) او اسپه کورنیو یادونه کوو ددې درو کورنیو څخه وروسته دوې کورنۍ(کیاني او اسپه) یې دهلمند په تاریخ پوري اړه لري. دعلامه کهزاد په وینا دوی دآریانا دقبل التاریخ زماني پاچهان دي چې په دا ورستیو یعنی دزردښت دراڅرګند بدو سره (۹-۷ قبل المیلادپېړیو) کې چې داوخت ویشتاسپه (ګشتاسپ) دزریر ورور او دښتویري اکا ټولواک ؤ. ددوی دزردښتي دین دخپرولو لومړنی سیمه دهلمند ښپرازه ورشو یا کیاني ویجه(دکیانیانو ټاټوبی) ده. او دایوه تاریخي دوره ده. ددې کورنۍ پاته شوني په داورستیو کې چې داسلامي دورې پیل دی هم روښانه تاریخ لري لکه یعقوب لیث صفاري(هلمندی)، امیر خلف صفاري(هلمندی) بیا تر لسمي هجري پېړۍ پوري داحیاء الملوک لیکوال ملک شاحسین کیاني(هلمندی) چې ددې کورنۍ تاریخ څرګندوی. اویستادې کورنۍ کاویم هورینو(=کیانیان) ته دکیاني فر. کیاني سلطنتي عظمت او جلال نسبت ورکړی دی.

اسپه کورنۍ

داویستاپه(زمیادیشت) او فروردین یشت کې دکاوي(کیاني) کورنۍ لړۍ کوه هو سراوا(=کی خسرو) ته رسیږي او دځینو څېړونکو په وینا چې داویستا له مخې دکیاني کورنۍ لړۍ اخري کړۍ خسرو باندي ختمیږي دلته داویستا څرګند شهادت یوې خواته او داسپي ذکلمي راپیدا کېدل ددوي په نومونو کې بلې خواته دکاوي دکورنۍ دبېلتون سبب کیږي او څېړونکي او تاریخپوهانو ددي لړۍ دتاریخ دڅرګندولو لپاره دوی دکیخسرو په وروسي او دلهراسپ په لومړي تن سره بېل کړي دي، مګر له

آره دايوه کياني يا خوبيخي پښدادي کورنۍ ته يې لړې رسيږي۱۳. داسپه کورنۍ چې له(کي لهر اسپ) څخه پيليږي په راوروسته کي نور غښتلي پا چهان هم تېر سوي چې يو له دوی څخه دهمدي لهراسپ زوی گشتاسپ دی چې دهمده په وخت کي زراتشتر(=زرتښت يا سپين تمان) رامنځ ته سوی او دزردښتي دين او ايين دخپرولو بنسټ يې لومړی په هلمند کي کښښود. تردې وروسته ددې کورنۍ څخه اسفنديار دده زوی، دگشتاسپ ورور زرير، دزرير زوی بستوري چې ويل کيږی دبُست ښار هم ده ودان کړی دی. دکشتاسپ دوې لونې همای او به آفريد ،ددوی بل ورور پشوتن۱۴ چې دالړې بيا ډېره غزيږي داتول دهمدې هلمند دغاړو اوسېدونکي او په خپل وخت ددې ښېرازي سيمې څښتنان تېر سوي دي.

د زال کورنۍ

د زال دکورنۍ لړې هم دتاريخپوهانو دخبرنو له مخې جمشيد پاچا ته رسيږي خو ددې کورنۍ روښانه تاريخ په هلمند پوري تړلی دي چې پيل يې په دې ډول دی: طورک(تورک)، نور، نريمان له ده څخه شم، اثرط(اسرت). له ده څخه سام له ده څخه يو زوی دنيا ته راغلي چې سور مخ او سپين ويښتيان يې وه ځکه نودی(زال زر=دستان) ونوماوه، دزال څخه رستم پهلوان او کرور وزبرېدی درستم نوم په تاريخي اثار وکي په مختلفو بڼو راغلی دی لکه: رستم، تخهک، رس تهم، رس تخم، په پهلوي ژبه کي رس زال او په اويستا کي راوت ستخم راغلي دي، ژبپوهانو رستم= رستهم لوی، غښتلی، هڅاند، غونډمنډ او کرور ماناکړی دی۱۵. دزال کورنۍ

---

۱۳ علامه احمد علي کهزاد، دافغانستان پخوانی تاريخ، لومړی توک، پښتو ژباړه، دتاريخ انجمن له خپرونو څخه، چاپ کال، ۱۳۳۴ هـ ش، مخ ۲۹۹.

۱۴ کانديد اکادميسن محمد اعظم سيستانی، سيستان قبل از اسلام، علومو اکادمي ، چاپ کال ۱۳۶۴، مخونه(۱۰۰، ۱۰۱، ۱۰۲)

۱۵ داکتر سيد جعفر مقاله، (خاندان رستم)، د GOOGLE سايټ په مرسته، وگوری گوگل پلټنه (خاندان رستم).

دکياني= اسپه کورنۍ سره په څنګ دخپل هيواد دپولو په ساتلو او دکياني او اسپه پرتم په خوندي کولو کي ډېري قربانۍ ورکړي دي. رستم پهلوان او کرور سړی ؤ ، ده دکياني کورنۍ څو تنه کيقباد، کيکاوس او کيخسرو دپاچهۍ پلاز ته ورسول، ويل کيږي چي هيڅ يوه پهلوان يا غير پهلوان درستم سره دجګړې په ميدان کي ډغري نه سوې وهلای، هغه يو ګرز او ډېر غښتلی آس د(رخش) په نامه درلود چي بل دې ته درستم څخه هم زيات اولادونه پاته دي، دوي لونې لکه مېرمن ګشسف او مېرمن زراسپ او زوی يې سهراب او... درلوده.دلا زياتو معلوماتو لپاره دي تر اسلام مخکي او وروسته نسخو کي دي دزال او رستم په اړه داستانونه وکتل سي.

دامورجيزيان کورنۍ ۱۶:

امورجيزيان ډېرو پخوا نيو اسکايي قبيلو يو څانګه ده، ددوی دراتګ وخت او صورت نه دی څرګند، دوی دهيرمند(هلمند) په حوزه کي خپاره او دلته مېشت سول، دوی تر ساکيانو يا اسکايانو مخکي راغلي کورنۍ او تېر دی چي تر ميلاد مخکي يې ټاکلي موده نه ده څرګنده. په دې وخت کي تازه راغلي اسکايان هم ددوی سره ګډ سوه چي وروسته به يې جلا يادونه وسي ۱۷

دساکانو- اسکايانو کورنۍ

ساکان چي په زړو متنونو کي په مختلفو نومونو ياد سوي ددوهم اشکاني فرهاد په وختو(۱۳۷-۱۲۸- مخکي تر ميلاد) دسيحون(= امو تر سيند راپوري وتل او وروسته ترڅو جګړو يې دهلمند ښيرازي سيمي ته ځان راورساوه او دلته مېشت سوه، داځای چي مخکي درنګيانا نومېدی ددوی

---

۱۶ Amurgisi

۱۷ علامه احمد علي کهزاد، دافغانستان پخوانی تاريخ، دوهم ټوک پښتو، مخ ۱۴۹.

په مېشت کیدو سره ساکستان= سگستان= سجستان(معرب)= او په اخر کي سیستان سو۱۸.

لکه څنګه چي دامو پورتنی حوزه دتخاریانو په مېشتېدو سره تخارستان سره مشهور سو، همداسي دهیرمند حوزه او درنګیانا سیمه دهمدي ساکانو په نامه سکستان او اخر سیستان یعني داسکایانو تاتوبی وبلل سو. دوی دمحلي عناصرو سره ګډ سول چی سگزي یا اوسنی ساګزي قومونه هماغه دپخوانیو ساکانو جزدی۱۹.

٦ : دحاجي جمال خان بارکزي کورنۍ:

دا کورنۍ هم چي د هلمند له غیږي را پورته سوې ده د هلمند په ناوه اونادعلي کي اوسېدل چي په وروسته کي دمحمد زیو په نامه نومول سوې چي دې پیاوړي کورنۍ بیا دسدوزیو تر زوال وروسته د افغانستان واک په لاس کي واخیست.

کله چي مور دهلمند پر لرغوني مدنیت رغیږو، دلته یو ځل بیا دهغه زاړه مدنیت ننبي زمور دهیواد دتکړه لیکوال او څېړونکي حاجي محمد اسماعیل شریعتیار په هڅه لیکلی اثر (هلمند پوله په پوله= کلیوالي جغرافیه =کلتوري جغرافیه)کي وینو، هغه لرغوني درنې او غښتلي کورنۍ چي موددې سیمي دارزښت سره وراندي کړې هغه دهمدې سیند پر غاړه میشتي سوي، پلونه او دلاسو ننبي یې لا په میراث راپاته دي چي مور دهند دلویي وچي دنورو لرغونو سیمو اوماورالنهر او دمصر (=Egypt)سره په سیالۍ برابروي. دانبي او دا دپلو ننبي هیڅکله دهېرولو نه دي دلته سړي ته دهیواد دتکړه شاعر(درویش دُراني) هغه بیت سترګوته ودریږي چي وایي:

---

۱۸ دهضدا لغت نامه، د(س) برخه.

۱۹ کهزاد مخکي اثر، مخ ۱۵۰.

ـ خو مره ده هېر زنې دا دنيا چې پکښې تېر شومه
پلونه مي لا پاته وه او زه دخلکو هېر شومه

په دې اثر کې ربښتيا هم درنو لوستونکو ته هلمند کوڅه په کوڅه، شله په شله، تپه په تپه، دهغو دپخوانيو او اوسنيو نومیالیو سره ښودل سوي، په داسي حال کې چې ليکوال ؛ لوستونکي تر لاس نيولي او د هلمند په ښېرازۍ او بڼونو يې ګرځوي. ددې اثر په څېر ښايي مور نوري داسي بيلګې په هيواد کې ونه لرو چې په ځانګړې ډول دي د يو ولايت جغرافيايي اوفرهنګي حالت معرفي سوی وي، مور پخوا په آريانا دايرة المعارف ، دافغانستان جغرافيايي قاموس او اطلس قريه های افغانستان کې په تيت او پرک ډول ولايتونو، ولسوالیو او کليو پيژندنه سوي وه خو ددې اثر توپير او غوره والی دادی چې د ځای تر څنګ دهغه ځای ځيني معنوي ارزښتونه هم راوړل سوي لکه: دهغه ځای مشهور زيارتونه، مشهوري څېرې، زړې او تاريخي کلاګاني ، لوی ولې، غرونه، دځلور خواوو له موقيعت سره په ډېره استادانه ډول پيژندل سوي دي، په اخر کې ښاغلي شريعتيار ته ددې درانه اثر ليکلو او چاپېدلو مبارکي وايم، او هيواد ته دنورو خدمتونو په لاره کې ورته دروغ او اوږد ژوند غوښتونکی يم او هيله ځيني کوم چې يوازې پردې اثر بسنه ونکړي، بلکه دلوی هلمند(نيمروز، فراه او غور) هم پوله په پوله مورته راوپيژني او دالړۍ نوره هم پسې وغزوي که ددوی څخه پاته سي نور ځوانان دي دالړۍ پسې وغزوي تر څو دټول هيواد هر ولايت دهغه دارزښتونو سره په ملي او بېن المللي ژبو معرفي سي.

په بشپړه ادبي مينه
شريف الله دوست(سرواني)، هلمند کياني تاتوبی

د پيل خبري

تيرو دورانونو ، يرغلونو ، توپيرونو هلمند ولايت كراري ته ندى پرې اينبى ، جغرافيايي موقعيت يې هم د زورواكانو لخوا وخت په وخت تغير خوړلى ، ډيره مننه كوم د هغو ليكوالانو ، مولفينو او محصلينو څخه چې د هلمند د موقعيت پر هر اړخ يې تر ډيره حده كار كړى دى . د كتابونو ، رسالو او شننو څخه يې د هلمند ولايت هرځه د وخت د ترسيم په هنداره كې معلوميداى سي او دا ډير لوى نقش قدم دى چې بايد پيروي يې وكړو .

تيرو ديرشو كلونو د افغانستان حكومتي نظام ، اصول او اداري بنسټونه ، مادي او معنوي شتمنى له منځه يو وړل . داسي چې دښمنانو په هر اړخ كې زمونږ د شتمنيو د لوټمار لپاره وړ او مناسب خلګ و ګمارل ، بدبختانه ، دا غليمانه پاليسي تر ډيره بريالى سوه خو يو مخ نه .

يو شمېر خلكو د وطن د شتمنيو سره تر خپله وسه وفا وكړه او تاليفات ، ذخاير . معدنونه ، تاريخي ارزښتونه چې دوى ته معلوم وه له دښمنانو پټ او هيواد ته ذخيره پربښودل . كه د هيواد په كنډوونو هر اړخيزه خبري وكړو ډير وخت او زياتي پلټنې ته اړتيا ليدل كيږي ، نو د مصلحت پر بنسټ مو غوره و بلل چې د هلمند پر جغرافيه لاسته راوړي معلومات وليكو چې د يوې خوابه مو خپله وجدانى دنده تر سره كړې وي او له بلي خوابه مو په معلوماتي پانګه كې هلمند ته يوه ډالى پرې اينبې وي .

هلمند په تيرو وختونو كې

د ۱۳۴۷ هـ ل كال د كالنى ۱۸ مخ پر بنسټ هلمند يا په بله مانا پرونى سيستان او اوسنى هلمند د زرګونو كلونو را پدېخوا د اوسيدلو او كرهنې لپاره هغه وړ او مناسبه سيمه ده چې ډيرو زړو كتابونو او تاريخونو ورځخه يادونه كړې ده .

(سراو ریل ستن) اروپایي پوهاند چي د هلمند د حوزې موقعیت کتلی وایي : وروسته له هغه چي د غارونو ژوند د هیواد د مساحت له کبله په پراخو ورشوګانو واوښت ، هلمند یو له هغو حوزو څخه وو چي خلګو یې د تورولو ډبرو (کلکو لتیک) په دوره پیل وکړ ، (سراو ریل ستن) ټینګ باور لري چي : ددې ځای موقعیت د اباسیند (اندوس) او اموسیند (اکسوس) تر منځ د کلتورې اړیکو د خپریدو یوه منځنۍ کړۍ تشکیل کړې ده. (هلمند د کلتور په ساحه کي ۵-۲- مخ)

په پرونۍ اریانا کي د هلمند موقعیت

د (هلمند د کلتور په ساحه کي) کتاب په شپږمه او اوومه ضمیمه کي چې د هلمند په اړه څه لیکلي سوي دي لږ برخه به یې تاسي ته ټکي په ټکي را نقل کړو : ((اویستا د اریایانو پخوانی کتاب هلمند د (تومانت) په نامه یادوي چي مانا یې د (بندونو ډک سیند) ده ، دلته نو مورد دا اټکل کولای سو چي هغه وخت ددې سیند له اوبو څخه څومره ګټه اخیستل کیده. په دې کي هیڅ شک نه پاتیږي چي پخوانیو خلکو ددې سیند داوبو څخه د کرهنې له پاره انتهایي کار اخیست.

د اویستا په دریم (ګات) کي د (ویندیداد) تر عنوان لاندي (تومانت) (هیتومند) یوولسمه اریایي سیمه یادهٔ سوې چي خلګ یې خورا اباد دي.))

اسلامي مورخین د سیستان د ابادۍ او زرغون والي ډیري کیسې کوي ، دوی وایي : د هلمند پر سیند درې بندونه ترل سوي وه چي ددغو بندونو په اثر به لویي ویالې سر او کال ډکي بهیدلې او مځکي به یې خړوبولې نومورې درې بندونه. د (اوبو بند) د (ریګو بند) او د (مفسدانو بند) نومیدل. (هلمند د کلتور په ساحه کي - ۸ مخ)

هلمند په اسلامي دوره کي.

د حضرت عثمان (رض) د خلافت په زمانه کي د ربيع بن زياد په مشرۍ د صحابه کرامو لښکري هلمند ته را رسيدلي دي. د عبدالرحمن بن ثمره په مشري يو اسلامي او جهادي لښکرد اسلام د دريم خليفه په امر هلمند ته راغی چي بست يې فتح کړ.

د ثمره زوی عبدالرحمن (رض) د ځان سره د هغه وخت ځيني فقها او قانون پوهان هم بست ته راوستل چي حضرت حسن بصري يې دلته د ستر شهرت څښتن وو . د عربي تهاجماتو وروسته د زرنج ښار چې د سيستان پلازمينه وه د توجه څخه و لويد او د ثقافتي مرکز په حيث يې د بست ښار ته سترګي واوښتې.

د حدود العالم ليکونکی حضرت ياقوت د هلمند د بست او ګرم سير د نومونو يادونه کوي.

بلا ذري په خپل تاريخ کي داسي ذکر کوي چي: د هجرت په ديرشم کال د (زياد زوی ربيع) د (داور) تر فتح وروسته (بست)ته ولاړی.

د ۲۳۲ هـ کال په شاوخوا کي د عباسي کورنۍ سره په ملګرتوب يعقوب د خپلي واکمنۍ سيمه پراخه کړه ، ورو ورو يې له ځانه امپراتور جوړ کړ .دا امپراتور د هلمند په خاوره کي زيږيدلی شخص وو او بيا تر اوسه هلمند د تاريخي يادښتونو د جګړو تود ډګر پاته سوی . اوس چي د هلمند جغرافيايي نقشه د نړۍ په کچه په رسمي ډول د افغانستان په نقشه کي ترسيم سو ې ، د معلومي او اندازه سوي قلمرو لرونکې ده بايد ټوله له هره اړخه و پيژندل سي.

پرته له دې چې د هلمند ولایت او ولسوالیو نومونه چې هغه هم د جغرافیایې مطالعې او ترسیم له مخې پیژندل کیږي، نور معلومات یې ډیرو لږو خلکو ته په برخه دي چې هغه هم پر نسته حساب دي.

د هلمند ولایت د کلیو، هدیرو، شخصیتونو، غرونو، هوارو، کښتونو، میوو، صنایعو او نورو یې ډیر لږ معلومات سته چې هغه هم د زړو کتابونو په پاڼو او یا د زړو خلکو په مغزو کې پاته دي که کتابونه څیري او زاړه خلک مړه سي هرڅه به ورک سي.

ما اړینه و بلل چې د هلمند د جغرافیا ثابت موقعیت پر غولي د خلکو د قولونو او د کتابونو د پاڼو څخه لاسته راغلي معلومات په یوه کتاب کې را غونډ کړم.

هڅه کوم چې هلمندیان او هیواد وال وروڼه په هلمند کې د لا زیاتو معلوماتو لرونکي او کتونکي و اوسي.

په تاسف سره باید روښانه کړم چې د هلمند په اړه ډیر معلومات هیڅ چا ندي وړاندي کړي نو که په کتابونو کې څه نه وي موږ هم باید د چا نیوکې او اعتراضونه په پام کې ونه نیسو هڅه به وکړو چې د وطنونو د بلدو او پوهو خلکو د اقوالو پر بنسټ د هلمند د سیمو معلومات را غونډ او تر تاسو یې درورسوو.

که روایات او متون نه وي نو لاس تر زني کښېناستل مناسب نه دي. فرصت باید غنیمت وګڼل سي. تر ټولو لومړی به د هلمند مرکز لښکرګاه، ور پورې ترلیو سیمو او بیا به د یوې یوې ولسوالۍ تر ګوتو سوي معلومات د یوه ځانګړي او نوي ترتیب له مخې راسي.

د کتاب وروستۍ برخه به د اختتام تر سر لیک لاندي څه ناڅه بیلابیل مالوماتونه وي هیله ده چې ورڅخه ګټه واخلی.

د هري سيمي او هري ولسوالۍ په اړه زما را ټول سوي معلومات زما تر خپله وسه کار دی ، که څه ناڅه لازم اشخاص ، وطنونه او يادابتونه پاته سوي وي زما د نه وس معذرت يې و ګڼئ.

لاندي مهم ټکي هم بايد په پام کي و نيول سي .

په دې کتاب کي ډيرو ورونو ماته مينه او تشويق راکړی دی په لاندي ډول دي.

استاد خيرمحمد (همت) د ښوونکو د روزنې د عالي موسيسې ښوونکی ، استاد غلام سرور(غفاري) د بُست خصوصي ليسې مدير ، الله نظر خان د ښوونکو د روزنې د عالي موسيسې ښوونکی ، محمد موسی خان د ښوونکو د روزنې د عالي موسيسې ښوونکی ښاغلي شريف الله (دوست)

، الحاج ډاکټر شير علي (شاکر) ، استاد شا محمود (حسرت) ، انجنير شامحمود خان ، انجنير عبدالله (وزيري)، الحاج خدای رحيم خان ، قاري حبيب الله (جواد) ، الحاج محمد حسن خان ،الحاج شير محمد خان (بلوڅ)

. الحاج ملا محمد اسماعيل (باغرانی)، ښاغلی سايل (زاهدي) ،ښاغلي عطاء محمد (سيلاب) ، ښاغلي شاولي (زيار مل) ،ښاغلی ادم (صفت الله)

،ښاغلی زمری (بستي) ،ښاغلی احمد شاه (پاڅون) ، ښاغلی عبدالولي (شيرزاد صفاري)، ښاغلی نور الله (عابدي)،

ښاغلی سردارمحمد (صديقي) اوښاغلی عبدالتواب.

ددې پورته ذکر سويو کسانو د ښو مشورو او کمپوز په اړه د مرستي مننه وی يم او د ښه راتلونکي په هيله يې يم. ماته د ويار ځای دی چي د هلمند په غم مي فکر اړوي او په ازه يې کار کولو ته اړ ايستل کيږم.

په پای کي د يادونې وړ بولم که د خلکو د خدمت په جريان کي څه کمي راڅخه سوې وي بخښنه غواړم

په درنښت

الحاج محمد اسماعيل (شريعت يار)

لښکرګاه

زړه لښکرګاه يولړ کنډوالي دي چې دبُست څخه دشمال خواته په شپږ کيلومتره فاصله کي دهلمند سيند پر لمرختيځه خوا پرتې دي.

داکنډوالي هغه وخت ښې معلوميږي چې دنوې لښکرګاه دکومي مانې دکړکۍ څخه دسهيل پرلور وکتل سي.

دلښکرګاه کنډوالي هغه وخت وداني وې چې دغزنوي کورنۍ دعظمت دوره وه،داکنډوالي ټوله عسکري چونې وې اوپخپله دپاچا محل (اوسيد نځای)دهغوپه منځ کي دهلمند سيند پرځنډه جوړ سوی دی.

هغه محال دلته هنرمندان هم اوسيدل ،دغزنوي دربارهنرمند شاعر (عنصري) ددې ځای دمانيو اوپه هغوکي دغزنوي پاچا داوسيدلو په هکله اشعارويلي دي.

دعلاوالدين (جهانسوز)ديرغل څخه لښکرګاه وسوځيدل سوه،دجهانسوز ددې يرغل څخه (۸۰)کاله وروسته يوځل بيالښکرګاه دچنګيز دتاړاک په پايله کي کنډاوکپر سوه.

دنن څخه څه دپاسه شپږپيړۍ مخته دګوډتيمور يرغلونودلښکرګاه شهرت دخاورو سره خاوري کړ،

ختيځ پيژندونکودنورو سيمو په سلسله کي لښکرګاه دمړه ياسوځلي ښارپه نامه پادوله، آن تردې چې د۱۳۲۸ هجري لمريز کال هاخواته چا پيژندل هم نه.

فرانسوي پوهانوپه لمريز ليږديز (۱۳۲۸)،(۱۳۲۹)او(۱۳۳۰)کلونوکي پنځه ځله کيندني کړي دي،دپلاوي مشر(شلوم برژه)اودټوله هيت لوی مشر(لوبر)نومیدی ترڅولشکرګاه کشف سوه.

لشکرګاه پر یوه دښت (په نوي ډول)بیرته اباده سوه،چې دادښت ،دښت لګان(کارته لګان)نومیږي،اوس دښت لګان نسته ،یوازي دلښکرګاه ښار یوه ګڼ میشته سیمه ده چې اوس هم دکارته لګان نوم پر پروت دی.

دلښکرګاه ښار(نوی لښکرګاه)

دلښکرګاه ښاردزړې لښکرګاه شمال پلوته دګرشک اوکندهار پریوه زاویه(کنج)جوړسوی دی،نژدې دهلمند دټوله اوږدې غزیدلي سیمې پرمخ جوړسوی ښاردی.لویدیځ ته یې دهلمندسیند بهیږي چې دښار په ښکلا اوهوا سمیدلوکي دپام وړونډه لري.

دلښکرګاه ښارهغه مهمې ودانۍ اوجوړښتونه چې په لومړي ځل یې بنسټ دمهندسۍ پراصولو ایښودل سوی دي په لاندي ډول دي:

۱-دکلوب ودانې

۲-دبانک درې منزله ودانې(افغانستان بانک هلمند)

۳-دانکشاف ریاست ودانې(دهلمند اوارغنداب لوی ریاست)

۴-دروغتون ودانې(بست روغتون)

۵-دمرکزي مسجد جامع ودانې

۶-دلبنیاتو ودانۍ

۷-درخام ډبروفابریکه

په دوهم ځل.بیلابیل نور پرمختګونه وسول.

۱-دافغاني ساختمانی دستګاه:چې مرکز یې په چا ه انجیر نومي سیمه کي جوړو.

۲-دعامه صحت موسسه:چې دهلمند دانکشاف لوی ریاست یوه څانګه ده جوړه سوه.

۳-مستظرفه صنایعو څانګه:درخام فابریکې مهمه څانګه ده.

په را وروسته کی نورډول ډول کارځایونه،دماموریتنواوسیدنځایونه او نورجوړسوه.

ورپسې په زیاتوسیمو کې پرشخصي ځمکو کورونه جوړسول چې اوس هغه سیمې دښاردننه برخې اویاهم په ښارپوری ترلې برخې بلل کیږي.اولا اوس هم دماسترپلان مطابق دښارپرمختیایي کارونه ادامه لري.

دلښکرګاه ښار اومربوطاتو باندنی ځلورخواوې:

شمال پلوته:دګرشک ولسوالي ، سهیل پلو ته :دناوې ولسوالي ، ختیځ پلوته:دمیوند ولسوالي(دکندهارولایت) ، لویدیځ پلوته:دنادعلي ولسوالي ..

دلښکرګاه ښاراوورپورې ترلې سیمو لنډه پیژندنه

لومړی دښارهغه سیمې چې دښاردباندې دي ۱-خشک آبه ، ۲-سرکار ، ۳-لښکري بازار(ختیځ العسکر) ، ۴-باباجي(باباحاجي) ، ۵-چاه انجیر ، ۶-بشران ، ۷-بولان ، ۸-بُست ، ۹-کاریز.

دښاردننه اوسنۍ مشهورې سیمې او موقعیتونه

مسجدونه چې زیات مشهور دي

۱-مرکزي مسجدجامع ، ۲-تبلیغي مسجد(ښار) ، ۳-دامام ابوحنیفه مسجد(ښار) ، ۴-دبُست روغتون مسجد ، ۵-دالفتح مسجد(لغړی مسجد)دښاردننه ، ۶-دبُست هوټل مسجد(دښاردننه) ، ۷-دسیدفتح أغامسجد(صافیان کلی) ، ۸-حاجي محمدنادراکامسجد(صافیان کلی) ، ۹-دحاجي شیراکامسجد(صافیان کلی) ، ۱۰-عمرفاروق رض مسجد جامع(دښاردننه) ، ۱۱-محمدی مسجد جامع(نوې منډوي ته نژدې) ، ۱۲-سپین مسجد(دولي کرم په نوم دهدیرې سره) ، ۱۳-دواشیریانو مسجد(دتورټانګ په سیمه کي) ،

۱۴-دحیات اکامسجد جامع(دتورټانګ په سیمه کي)، ۱۵-دعبدالغني اکامسجد، ۱۲-دازبکانو مسجد(دامام بخاري (رح) مسجد (دتورټانګ په سیمه کي)، ۱۷-في سبیل الله مسجد جامع(دتورټانګ په سیمه کي)،
۱۸-دتورټانګ مسجد(دتورټانګ په سیمه کي)،
۱۹-رحماني مسجد جامع(دشهید غلطان په سیمه کي)،
۲۰-دشهید غلطان دزیارت سره مسجد(دشهید غلطان په سیمه کي)
۲۱-رنګه مسجد(دبې تووون نمرو په سرکي)
۲۲-نوي عیدګاه چي اوس دجوړیدو په حال کي ده(دکارته لګان په لومړي سرکي)، ۲۳-دخدای(ج) مسجد(دکارته لګان سیمه)،
۲۴-جعفري مسجد(دکارته لګان سیمه)، ۲۵-دفراهیانو مسجد(دقلعه کهنه سیمه)، ۲۲-دمحمد عیسی خان مسجد(دقلعه کهنه سیمه).

دلښکرګاه ښار مشهور موقعیتونه

۱-دکندهار اډه-۲-دترافیکو برج۳-صافیان سیمه۴--دهلمند سیند پُل-
۵-عمومي ګدامونه-۶-بُست هوایي ډګر-
۷-دسوداګریزو معاملو ځای(ګنج یامیله)دهلمند سیند دُپل په اړخ کي)
۸-عسکري لیواء(دبولان پرلوړه)، ۹-دهلمند کرهنیزلابراتوار(دنوي منډوي سره)
۱۰-دځوانانو داریکو کارځای(دنوي منډوي سره اودهلمند کرهنیزلابراتوارپه احاطه کي)، ۱۱-دشهیدانو اومعلولینو کارځای، ۱۲-داقتصادریاست(دنوي منډوي سره)، ۱۳-نوي منډوي، ۱۴-دبدني روزني کلب(دنوي منډوي سره)، ۱۵-دبُست تصدي دمامورینو کورونه دعبدالجبارپه نوم له حمام سره، ۱۲مختارکلی ، ۱۷-دمهاجروکمپ(په مختارکلي کي)، ۱۸-سپین

حمام(دتورتانګ په سیمه کي)، ۱۹-دهلمند راډیو تلویزون(دتورتانګ په سیمه کي)، ۱۸-دجنایي آمریت کارځای(دامنیه قومندانۍ په ساحه کي)، ۱۹-دتوتیفیک نمرې ، ۲۰-دبی ټوون نمرې ، ۲۱-درنګه مسجد سیمه(دغبرګي سره)، ۲۲-دطالبانونمرې ،۲۳-دمعلمانونمرې ، ۲۴-دکارته لګان سرمامۍوریت ، ۲۵-چهل متره نمرې(زړه سیمه)، ۲۲- چهل متره نمرې(نوی سیمه)، ۲۷-دغبرګي سیمه ،۲۸-دټانګ ذخیرې سیمه ، ۲۹-دحاجی عبدالقادر اکانمرې(دتورتانګ دمکتب مخامخ)، ۳۰-سرپوښه بازار(دالفتح مسجد سره)بنار، ۳۱-دغوښوسرپوښه مارکیټ(بنار)، ۳۲-دچاانجیر دستګاه دکانونه(بنار)، ۳۳-دښت تصدی دکانونه(بنار)، ۳۴-دښاروالۍ دکانونه(بنار)، ۳۵-دحجارۍ اونجارۍ فابریکې خام کورونه، ۳۶-دبریښناریاست دکانونه ، ۳۷-دحج او اوقافوریاست ، ۳۸-دکرهنې اومالدارۍ ریاست (دهلمنداوارغنداب دلوی ریاست په ودانۍ کي)، ۳۹-عامه کتابتون ، ۴۰-داملاکومدیریت(دهلمند اوارغنداب دلوی ریاست په ودانۍ کي) ، ۴۱-دقبایلوریاست ، ۴۲-دمحکمې دمامورینو تعمیران ، ۴۳-داسلامي بانګ دفتر،۴۴-عزیزي بانک(دحاجي غلام نبي په مارکیټ کي)، ۴۵--(دحاجي غلام نبی مارکیټ (دزړې بناروالی شاته)، ۴۶-کابل بانک(دسینماچوک سره)، ۴۷-باختربانک(دنویومارکیټونوپه سهیلي سرکي)، ۴۸-حاجي شراف الدین مارکیټ(دذکورودلیسې سره)، ۴۹-بارک مارکیټ ،۵۰-په قلعه کهنه کي دلرګیوګنج ، ۵۱-مرکزي عمومي شاف دهیلی یاکوتري دچوک سره ، ۵۲-دکاماز موټرانوریاست ، ۵۳-دحاجي محمدولي علیزي مارکیټ(په نویومارکیټونوکي)، ۵۴-صباوون مارکیټ ، ۵۵-دترانسپورت ریاست(دکندهار دادې سره)، ۵۶-دامیردادمحمدخان کور(دکندهاردسړک

پرسر)، ۵۷-دلښکرګاه ښارډنظام قرول شیشک، ۵۸-دنویوصافیانونمرې ۵۹-بریښناکوټ دبُست تصدی ارخ ته ، بلاک نمرې(په نویوصافیانوکلي کي)SSI ۲۰-د ۲۱-سپینه پوسته د صافیانوسیمه، ۲۲-سره پوسته(د صافیانوسیمه)، ۲۳-د هوایي ډګرکورونه(د صافیانوسیمه)، ۲۴-دتورټانګ اډه (دسینماچوک)، ۲۵-دمختارکلی اومهاجرکمپ اډه دنویومارکیټونوشاته دولي کرم په نامه مسجدسره، ۲۶-داطلاعاتو اوکلتورریاست ، ۲۷-دلب جوی سیمه ، ۲۸-دبُست عالي لیسه ، ۲۹-دتورټانګ سیمه ، ۷۰-شمالي لښکري بازارسیمه ، ۷۱-خروټ آبادکلی

(د صافیانوسیمه)، دلښکرګاه ښار مهمي ودانۍ

۱-دبُست تصدی فابریکه۲-دحجاری اونجاری فابریکه۳-دملي امنیت ودانی۴-دهلمند دعمومي زندان ودانی۵-دپولیسوروغتون ودانی۶-دبُست روغتون ودانی۷-دصمدي(شخصي)روغتون ودانی۸-دایمرجنسي روغتون ودانی۹-دهلمنددلوړو زده کړودعالي موسسې ودانی ، ۱۰-داناثو دلیسې ودانی۱۱-دماشومانو دروزني (وړکتون) ودانی۱۲-دښاروالی نوې ودانی۱۳-دعبدالجبارحمام ودانی۱۴-دتورټانګ ثانوي ښوونځی (دلښکري بازارغربي لیسه)۱۵-ددولتي دارالعلوم اودارالحفاظ ودانی د(شمالي لښکري بازارپه سیمه کي)۱۶-دامنیت قوماندانی نوې ودانی-(دکارته لګان سیمي په سرکي)۱۷-دبریښناریاست نوې ودانی-(دکارته لګان سیمي په سرکي)۱۸-دځارنوالی نوې ودانی(دکارته لګان سیمي په سرکي)۱۹-دکلیواوپراختیاریاست ودانی(دکارته لګان سیمي په سرکي)۲۰-دسینماودانی-(ښار)۲۱-دسرې میاشتي ریاست ودانی-(دسینماپه ارخ کي)

۲۲-دمحکمې زړه اونوې ودانی-(دولایت مقام دودانی ارخ ته)

۲۳-داستاف هاوس ودانی۲۴--بُست هوټل ودانی-(ولایت جاده)۲۵-دوالي دکور ودانی-(ولایت جاده)۲۶-دولایتی شوراء دکارځای ودانی(ولایت جاده)۲۷-ددولتی میلمستون ودانی-(ولایت جاده)۲۸-دولایت ودانی۲۹--دمطبعې دآمریت ودانی۳۰--دسروې کادستر دآمریت ودانی۳۱--دمستوفیت نوې ودانی دسړې میاشتي دچوک سره (پښتونستان چوک)۳۲-دکارته لګان لیسې ودانی-

دلښکرګاه ښار مهم اومشهور چوکونه

۱-هیلی چوک(سولي چوک)۲منارچوک-(دقلعه کهنې دبازار سره)۳-دزړې ښاروالی سره جنوبي چوک(بازار)۴-دذکورودلیسې چوک۵- دزړې ښاروالی اودبریښنا دزوړ دفترترمنځ چوک(بریښنا چوک)

۶-دډاکټر فوزیې(سادات) په نوم چوک۷-دکریم بای په نوم چوک۸-سمیتي چوک (کارته لګان)۹-دنوې منډوي چوک۱۰--دکارته لګان دبرج چوک۱۱--دناصري شیشک په نوم چوک۱۲-دنوې مستوفیت چوک۱۳--دبُست روغتون چوک۱۴--دسینماچوک۱۵--دښووني اوروزني ریاست چوک۱۶--دمحکمې ریاست چوک۱۷--دالفتح مسجدچوک۱۸--حمام چوک۱۹--دصمدي روغتون چوک۲۰-دډاکترنصرالله په نوم چوک۲۱-دسرحداتو اوقبایلو ریاست چوک۲۲-داطلاعاتواوکلتور ریاست چوک۲۳--ناصري چوک دنوې ښاروالی اوعبدالجبارحمام ترمنځ-

دلښکرګاه ښار مشهوري اورسمي جادې

۱-بُست جاده۲--هلمند جاده۳--درویشان جاده۴--لښکرګاه جاده۵--میدان جاده۶--ګرشک جاده۷--نوزاد جاده۸-کابل جاده۹--لغمان جاده۱۰--هرات جاده۱۱--کندهار جاده۱۲--ننګرهارجاده۱۳--غزني جاده۱۴--زابل جاده۱۵--پکتیا جاده-

۱۲-لوګر جاده۱۷--بدخشان جاده۱۸--شبرغان جاده۱۹--ارغنداب جاده۲۰--رخام جاده۲۱--خیبر جاده۲۲--خوست جاده۲۳--سالنګ جاده-

دلښکرګاه ښار لوبغالي اومشهور پارکونه

۱-دملت باباپارک(دګنج یامیلې مخامخ)

۲-دبُست روغتون لویدیځ پلوته (دسیندپرغاړه) پارک(میرویس نیکه پارک)

۳-دمرکزي مسجدجامع لویدیځ پلوته دمثلث په نوم لوبغالی(احمدشاباباپارک)

۴-دمرحوم الحاج محمدرسول اخندزاده په نوم پارک(دسینماشمال شرق لورته)

۵-دکرزی په نوم لوبغالی۲-په تورتانګ سیمه کي دغازي محمدایوب خان په نوم دکرکیټ لوبغالی(غازی محمدایوب خان لوبغالی)

۷-په تورتانګ سیمه کي دانجونولپاره لوبغالی(ملالی پارک)

دلښکرګاه ښار مشهور بازارګوټي

۱-دبولان دکانونه(بازارګوتی)۲-دقلعه کهنې سیمي(بازارګوتی)۳-دکارته لګان(بازارګوتی)۴-په تورتانګ سیمه کي دسپین حمام سره(بازارګوتی)

۵-دمهاجرو(بازارګوتی)په مختارسیمه کي۲-دشمالي لښکري بازار په جنوبي اړخ کي(بازارګوتی)

دلښکرګاه ښار مقدس زیارتونه

۱-دولي کرم زیارت۲-دالحاج ملاخدایداداخند(دمارجې حاجي بابا)زیارت دولي کرم په هدیره کي۳-دپاچاجان زیارت دولي کرم په هدیره کي۴-دشهید غلطان زیارت(دشهید غلطان په سیمه کي)

دلښکرګاه ښار مهمي اومشهوري هديري

۱-دولي کرم هديره۲-دشمالي لښکري بازارهديره۳-دمختارکلي هديره
۴-دکارته لګان هديره۵-دصافيانوهديره۶-دقلعه کهنې هديره

دلښکرګاه دښار دخلګوپه هکله لنډمعلومات

دلښکرګاه ښار اوسيدونکي په سلوکی(۸۰)سلنه پښتانه،اوپه سلوکی(۱۰) سلنه اهل تشيع،په سلوکی(۵)سلنه ازبکان، په سلوکی (۲)سلنه تاجکان،په سلوکی تر(۱)سلنه لراهل هنود اوتر (۲)سلنه زيات بلوڅان او نورقومونه ژوندکوي.

دهرتوکم خلګ داقتصادي حالت له نظره لوړ،منځني اوټيټ حالتونه لري.

دلښکرګاه ښارخلګ په سوداګريزو معاملو،دټيکې او ورځنيو مزدوريوبوختياوي لري.کرهنه يې بيله شمالي لښکري بازار څخه په داخل کي نه کيږي.اوخلګ خپلي ورځنۍ اړتياوي دښاراوبازارګوټوله هټيوڅخه پوره کوي.

دلښکرګاه دښارخلګ بيله اهل هنودو څخه چي مسلمانان نه دي نورټوله طبقې داسلام دمقدس دين پيروان دي.

په ښوونځيواودينې مدرسوسربيره په هرمسجدکي دمسجدامام دوه يادرې يازيات طالبان لري.اوهره ورځ ددينې زدکړو دميتود سره سم تدريس ورته کوي، طالبان دخلګو دچندې په پيسواودهرکورڅخه ديوې يوې ډوډۍ په اخيستلو چي ځيرې يې بولي خپل ورځنی قوت برابروي

ځيرې داسي ټولوي چي يوکوچنی طالب هرکورته ورځي اوداسي ناره کوي:ځيره راواستوی خيريوسی، دکورڅخه يونفريوه ډوډۍ يا ځيره ورته راباسي.

دلښکرګاه ښارپوري ترڅې دخشک ابې سيمه

داسيمه دمخطرکلاه څخه پيل کيږي اوبيادسيدبهلول جان اغامرحوم تردربارپوري رسيږي،توله اوسيدوونکي يې پښتانه اوپه قوم اسحاق زی دی،البته په نوروقبيلوپوري ترڅې خلګ هم پکښې لږاوسيږي خوهغوي وطنوال نه دي بزګر،کښته ګراوپه بل نوم سيمه داراوسيدونکي دي.

باندنۍ څلور خواوي يې

شمال پلوته:دګرشک ولسوالي دنهرسراج سيمه

سهيل پلوته:دارغنداب سيند.

ختيځ پلوته:دميوند ولسوالي يادبند تيمورسيمه

لويديځ پلوته:سرکاراولښکري بازارسيمي.

سيمه ايزي څلور خواوي يې

شمال پلوته:دنهرسراج اوږدې سيمي ته څيرمه کرهنيزي ځمکې.

سهيل پلوته:دارغنداب سيندته نژدې کرهنيزي ځمکې.

ختيځ پلوته:ددربارپه نوم وطن پيل کيږي.

لويديځ پلوته:دمخطرکلاه په کورونوپای ته رسيږي.

دخشک ابې سمه توله کرهنيزه اووطني بڼه لري،متصوفين اومذهبي خلګ پکښې ډيراوسيږي اودوی دخپلوستونزودهوارولولپاره لښکارګاه ښارته مراجعه کوي.

ددربار هديره يې مشهوره هديره ده چې متاسفانه دزيارتونوپه هکله يې معلومات نسته،يوازي سيدبهلول

اغادی چې خلک يې نوم پرخوله اخلي دشاهي اوجمهوري نظامونوپرمهال(۱۲۹۰څخه بیاتر۱۳۵۴هـ ل)کلونوپه شاه وخواکي ژوندی وواوس وفات سوی دی.
دسید بهلول جان اغامرحوم په هکله دوې شفاهي کیسې راپاته دي.

اوله کیسه

ډیرخلک وایې چې یو وخت غله په لاره کي ناست وه اوسید بهلول جان اغایې راګرځولی وو ،پیسې یې ورڅخه اخستي وې اوبیایې لاسونه اوپښې یې ورتړلي وه ،کله چې دلمانځه وخت رارسید لې وونوسید بهلول جان اغایې لمونځ ته پرې اینبی وو.کله چې راخلاص سوکورته راغی نویې په دربارکي وویل عجبه نبه غله وه پښې اولاسونه یې راتړلي وه اودلمانځه پرمهال یې لاسونه اوپښې راخلاص کړه اولمونځ مي وکړ،یرښه خلک وه.دپیسوهیڅ خبره یې هم نه کوله لمانځه ته دپرینبودلو یې هره شیبه یادونه کوله.

دوهمه کیسه

داخترپه شپه مانبام یې دمانبام پرمهال داخترکاسې وریجي میږیانوته پردښت ورکړي وي اوکورته یې وویل میږیان هم وږي وه دوی هم اخترغوښتی اودایې داخترکاسه وه خدای(ج)لوي دی زموږچاره به وکړي.
دشپې دپیشلمي پرمهال یوناڅاشناسړي یوباروریجي یې پراوښ باردوی دربارته راوړلې باراواوښ یې دواړه پرینبودل اوولاړی.

دلښکرګاه ښارپوري ټرلې دسرکارسیمه

داوطن دیولړځمکواوکوچنیوکلیوځخه تشکیل سوی دی،ددي وطن اوسیدونکي پخوادمحمدزیودقوم ځخه وه اودمحمدزیودپاچاهي په دوره کي دحکومت لخواورته ځمکي ورکول سوي دي،خوپه جګړه ایزوتیرودریولسیزوکي دځمکوځښتنان(محمدزی)باندنیوهیوادونوته په هجرت ولاړه اوځمکي يې ډيري دبيلابيلوقومونوپرخلګوخرڅي کړې،

اوس هم که دچاځخه پوښتنه وکول سي نووبه وايې چي سرکار دمحمد زیودقوم ځمکي اووطن وو.سردارمحمدرحیم

خان يې دمخورووخلګوځخه وو،چي دلمريزهجري(۱۲۴۰) کال په شا اوخواکي يې ژوندکاوه.

اوس دسرکاردسیموپرځمکوعلي زي،نورزي،هلکوزي اونورقومونه خلګ ژوندکوي.

باندنۍ ځلورخواوي يې

شمال پلوته:دګرشک ولسوالي ، سهيل پلوته:دلښکري بازارسیمه ،ختيځ پلوته:دخشک آبه سیمه ، لويديځ پلوته:دګرشک ولسوالي اودلښکري بازارسیمه.

سیمه ایزي ځلورخواوي يې

شمال پلوته:دنهرسراج کلي اوباندونه ، سهيل پلوته:دلښکري بازار (العسکر)اوږده غزيدلې سیمه ، ختيځ پلوته:دختيځ لښکري بازار پراستقامت دولتي ځمکي ، لويديځ پلوته:دختيځ لښکري بازارويالې اوکرهنيزي ځمکي.

دسرکارمحمدزی قوم اوس په سرکارکي نسته،یاخوپه باندنیوهیوادونو کي په هجرت اویادافغانستان په بیلابیلوښارونو
کي ژوندکوي،که څوکورونه پاته وي هغه به هم دومره لږ وي چي پرنسته حسابیږي

دلښکرګاه ښارپوري ترلې دالعسکر(ختیځ لښکري بازار)سیمه

داسیمه ډیرلرغونی تاریخ لري،دلته دبیلابیلوواکمنیواوپاچهیولښکرونه اوسیدله،دآسانودساتلوځایونه یې په دغه سیمه کي جوړکړي وه،ځکه لښکري بازارورته وایې،اوس ددې سیمي څخه یوازي تاریخي شالیدراپاته دی.
په اوسنیووختونوکي داسیمه دلښکري بازاریاالعسکردنومونودغوښتني په حساب دجګړه ایزولښکرودراغونډولولپاره نه کارول کیږي.

دلښکري بازارباندنی ثلورخواوي

شمال پلوته:دسرکارسیمه اودګرشک ولسوالي ، سهیل پلوته:دارغنداب سیند،ختیځ پلوته:دخشک آبې سیمه ، لویدیځ پلوته:دلښکرګاه نوی اوزورښار،

سیمه ایزي ثلورخواوي یې

شمال پلوته:دنهرسراج اوسرکاروطنونه ، سهیل پلوته:دارغنداب سینداو کرهنیزي سیمي ،ختیځ پلوته:دمخطر کلا په نوم سیمه-مخطر یوه لویه لرغوني کلاده چي متاسفانه هیڅ تفصیل یې په هکله نسته ،

لويديځ پلوته دملک خيرو کاکامرحوم دښاخ کورونه

مشهوره مشران يې

۱-الحاج ملک محمدانورکاکا نژدې(۹۰)کاله عمرلري اواوس هم ژوندی دی.

۲-حاجي ملک خيروکاکامرحوم نژدې(۷۹)کاله عمريې درلودې دهجري لمريز(۱۳۱۱)په شااوخواکي تولدسوی دی.

خلګ وايې چې دماخستن دلمانځه لپاره يې دخپلي ميرمني څخه اوبه غوښتي وي اودهمغه اودس تازه کولوپرمهال په حق ورسيدی.

مشهوره عالمان يې

الحاج ملامحمدعباس اخندد(۱۲۹۲)هـ ش څخه تر(۱۳۵۳)هـ ش شااوخواپوري.

الحاج ملاصفدرجنګ اخندد(۱۲۸۱)هـ ش څخه تر(۱۳۴۹)هـ ش شا او خواپوري.

مشهوره زيارتونه يې

الحاج ملامحمدعباس اخندد(۱۲۹۲)هـ ش څخه تر(۱۳۵۳)هـ ش په شااوخواپوري.

فقيرشبونيکه د(۱۱۲۲)هـ ش په شااوخواکي.

لالکونيکه د(۱۲۳۰)هـ ش په شااوخواکي.

چادربابا د(۱۱۳۵)هـ ش په شااوخواکي.

مشهوره هديره يې

دالحاج ملامحمدعباس اخندپه نوم هديره ترټولوهديرولويه اومشهوره هديره ده

باباجي(باباحاجي)

باباجي يوپيردی،دخدای(ج)دوست سړی وو،چې ډيرپخواوفات سوی دی،اوپه دغه سيمه کي ښخ سوی دی اوس دغه سيمي نوم ورځخه خپل کړی دی ځکه سيمه دباباجي په نوم يادېږي اوپه هکله يې نورمعلومات نسته.

باباجي سيمه هم دلښکرګاه پوري تړلې سيمه ده په اصل کي يوکلی دی چې دجنوب ختيځ ځخه دشمال لويديځ پرخواغزيدلی پروت دی.

کورونه يې هم ګڼ نه دي بلکي هستوګن يې څوڅوکوره پرخپلوځمکو پراته دي.

دباباجي سيمه دشهرت له کبله زياته مشهوره ده ځمکه يې کرهنيزه اوريګ مغزه ده.

اسحق زي،اڅکزي،بلوڅ اونورتوکمونه پکښې اوسيږي.

دباباجي دهديرې په نوم يوه مشهوره هديره لري.

روحانيون اومخوري ځيرې يې مشهوري نه دي.

يوازي ملافضل الحق(مقاتل)ووچي د(۱۳۵۰)هـ ل په شااوخواکي يې ژوندکاوه دنوم ځښتن دی.

باندنۍ څلور خواوي يې

شمال پلوته :دګرشک ولسوالي ، سهيل پلوته:دهلمند سيند، ختيځ پلوته:دګرشک ولسوالي ، لويديځ پلوته:دچاه انجير سيمه.

سيمه ايزي څلور خواوي يې

شمال پلوته:درحيم خيل اوسليمان ښازۍ کلي ، سهيل پلوته:هلمند سيند.
ختيځ پلوته:دکرغجت کلي ، لويديځ پلوته:دکنجک کلي.

چاه انجير دلښګر ګاه ښار پوري تړلې سيمه

دچاه انجير سيمه يوه لويه اوپراخه،هواره اوکرهنيزه ځمکه لري،داسيمه داوبولرونکي اوپه درختو پوښلې سيمه ده.
ددې سيمې ديوه مخورسپين ږيري په قول پخوا په دغه سيمه کې کاريزتير سوی وو اوددغه کاريزپه سرکې دانځريوه
ونه شنه وه ځکه دغه کاريزانځرخاه ته چاه انجير وويل سوه اواوس سيمې نوم ورځخه خپل کړ.

ددې وطن مشهور کلي

۱-۳۱شرقي کلي.۲-۳۱غربي کلي.۳-دهراوديان کلي.۴-دبلوخانوکلي.۵-دعلي زيوکلي.۶-پوپلزيوکلي.
ددې سيمې ټوله خلګ مسلمانان،اواکثريت يې پښتانه توکمه دي.

مشهور شخصيتونه يې

حاجي سيدمحمد علي زی په۳۱غربي کلي کې دفن دی د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکې يې ژوند کاوه.
حاجي عبدالکريم پوپلزی دشمالان ويالې په غاړه کې دفن دی. د (۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکې يې ژوند کاوه.

حاجي وکيل طالب بارکزی دچاه انجيرپه مرکزي هديره کي دفن دی.د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي يې ژوندکاوه.

دچاه انجير مشهوره عالمان اوروحانيون

مولوي عبدالغفار بارکزی په ۳۱غربي کلي کي دفن دي د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي يې ژوندکاوه.

حاجي مولوي عبدالباقي علي زی. دچاه انجيرپه مرکزي هديره کي دفن دي(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي يې ژوندکاوه

مولوي خان محمد پوپلزی دعبدالله قلف په هديره کي دفن دي.(۱۳۶۰)هـ ش په شااوخواکي يې ژوندکاوه.

مشهوره روحاني ملايحيی اخند(قادري)اسحق زی.دلوی مانده په هديره کي دفن دی.د(۱۳۵۰)په شااوخواکي يې ژوندکاوه.

ژوندي اوسيدونکي مشهور شخصيتونه يې

حاجي عبدالله جان په ۳۱غربي کلي کي.

حاجي مامورصالح محمد په ۳۱شرقي کلي کي.

حاجي عبدالمحمد په ۳۱غربي کلي کي.

حاجي نادر په ۳۱غربي کلي کي.

حاجي عبدالکريم دواشيريانوپه کلي کي.

سرکاتب محمدصادق په ۳۱غربي کلي کي.

محمدعمر دچاه انجيرپه مرکزي کلي کي.

الحاج ولي جان اغا په ۳۱غربي کلي کي.

څلور خواوي يې

شمال پلوته:دبغراکانال

سهيل پلوته:دبولان دښت

ختيځ پلوته:دبغراکانال اودنادعلي ولسوالي ځيني سيمي

لويديځ پلوته:دچاه انجير دښت

بشران

بشران د(ب)په پښې سره ويل کيږي چې دزيري په معني دی،حاجي عبدالستارخان اودهغې سيمې نورخلګ وايې چې غوث ملامقرب چې دغې سيمې ته راغې خلګودغې سيمې ته دده راتګ(بُشران)يازيری وباله،په عربي لغت کې بشران دزيري په ژباړه دی.

اوس دډيروويلوڅخه بُشران د(ب)او(ش)په(زورونو)سره ويل کيږي(بَشَران)

باندنۍ څلور خواوي يې

شمال پلوته:دچاه انجير سيمه. سهيل پلوته:دهلمند سيند ،

ختيځ پلوته:دباباجي سيمه ، لويديځ پلوته:دبولان سيمه

سيمه ايزي څلور خواوي يې

شمال پلوته:دشمالان وياله

سهيل پلوته:دحاجي خدايرحم کاکړپه نوم کلی

ختيځ پلوته:دحاجي ميرزاخان کلی اوبرنګ غونډی

لويديځ پلوته:دشمالان وياله

بشران ډیره سرسبزه اوپه درختوپوښلې سیمه ده،چې په مساحت کوچنۍ خودشهرت په اساس ډیرلرغونیتوب اولویوالی لري،په دغه لویه سیمه کې یوه لویه هدیره سته چې زیاته مشهوره ده اوښه،ښه زیارتونه اومزارونه لري.

دبشران مشهورولیان اوزیارتونه

۱-غوث ملامقرب اخند کاکړ د(۱۲۷۰)هـ ش په شااوخواکې ژوندی وو.
۲-غوث الدین جان اغا کاکړ د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکې ژوندی وو.
۳-حاجي ګلوجان کاکړ د(۱۳۱۰)هـ ش په شااوخواکې ژوندی وو.

دغه ښه خلګ دري واړه دبشران په هدیره کې دفن دي،دغوښوخلګوته ځکه اغاصاحبان وایې چې په قوم کاکړان اوصاحبزاده خیل دي دصاحبزاده خیلونسبي سلسله د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمرفاروق(رض)ته رسیږي،اودغه هدیره هم دصاحبزاده خیلوپه نوم نامداره ده.دبشران میشت قومونه بارکزي اوکاکړان(صاحبزاده خیل دي)دي.

بولان

بولان دلښکړګاه ښارلویدیځ ته یوه پیژندل سوې،هواره،شنه سیمه ده چې دلرغونیتوب اوتاریخ له پلوه زیاته مشهوره سیمه ده.په دیې سیمه کې زیات تاریخي ځایونه سته لکه دبولان کلاه(چې اوس په یوه غونډۍ اوښتې ده)چې دګرشک ولسوالۍ ته دتلونکي لاري په غاړه کې پرته ده.

باندنۍ ځلور خواوې یې

شمال پلوته:دبشران سیمه
سهیل پلوته:دمارجي اولښکرګاه ترمنځ غزیدلی سړک
ختیځ پلوته:دهلمند سیند اولښکرګاه ښار
لویدیځ پلوته:دچاه انجیردښت اودتانګ سیمه

سیمه ایزي څلور خواوي یې

شمال پلوته:د سپیني کوتې کلی
سهیل پلوته:د مارجي اولښکرګاه ترمنځ پوخ سړک
ختیځ پلوته:د حاجي کمال خان په نوم کلی
لویدیځ پلوته:د حاجي محمدعثمان خان په نوم کلی،دزابرغاړه اودحاجي حفیظ الله(حقیار)په نوم کلی

د دې سیمې مشهوري څیرې

۱-قاضي ابوالحسن بولاني دغزنوي سلطان محمودد زوی سلطان مسعوددواکمنۍ په دوره کي په بولان کي اوسیدی.
وخت(۴۲۰)هـ ق شااوخواوه.
۲-ابوبکربولاني:د(۴۵۰)هـ ق په شااوخواکي دغزنویانوپه دوره کي په بولان کي اوسیدی.
۳-دروسانوسره په جګړه کې د دې سیمې مشهوراووتلې شخصیت الحاج حفیظ الله(حقیار)دی چې اوس هم یوکلی پرنامه لري اوژوندی دی.
د دې سیمې ټوله خلګ بارکزي توکمه دي د پیرلږ پکښې نورقومونه هم ستهٔ دسپیني کوتې اودبولان په نوم یې دوې لویې هدیرې دي.

د کاریز سیمه

کاریزدلښکرګاه سهیل ارخ ته دریګ پرلوراوړده غزیدلې سیمه ده،چې زیات شهرت لري.دورتیااواهمیت له پلوه پرښه موقعیت پروت دی.د پیرپخوادلته یوکاریزفعاله ووخواوس نسته ځکه دغه سیمه د کاریزپه نوم یادیږي.

غنم اوجوارپکښي ډيرکرل کيږي،دخټکيوپالیزونه يې زيات نامداره دي
اودخټکيودخوږوالي ستاينه يې کيږي.

باندنۍ څلورخواوي يې

شمال پلوته:دلښکرګاه ښار، سهيل پلوته:دبست سيمه ،
ختيځ پلوته:ريګستان اودبُست هوايي ډګر، لويديځ پلوته:دهلمند سيند .

سيمه ايزي څلورخواوي يې

شمال پلوته:دبُست هوايي ډګرنظام قرول
سهيل پلوته:دشهزاده بابامزار
ختيځ پلوته:دبُست هوايي ډګراودارغنداب سيند
لويديځ پلوته:هلمند سيند

مشهورشخصيتونه يې

الحاج آدم خان مرحوم د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي ژوندی وو.
الحاج مديرعبدالصمد مرحوم د(۱۳۷۰)هـ ش په شااوخواکي ژوندی وو.
الحاج نظرمحمد مرحوم د(۱۳۷۵)هـ ش په شااوخواکي ژوندی وو.
الحاج ملاحبيب الله اخندزاده د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي ژوندی وو.
زعفران نيکه د(۸۲۵) هـ ق په شااوخواکي ژوندی وو.
محمدنعيم اوس ژوندی دی.

دکاریز مشهور کلي په لاندي ډول دي

دمدیر عبدالصمد خان کورونه ، دمدیر محمدنعیم خان کورونه ، دحاجي آدم خان کورونه ، دشهزاده باباسیمه ،مشهوره هدیرې یې دزعفران نیکه هدیره دشهزاده حسیني باباهدیره

مشهورزیارتونه یې

دزعفران نیکه زیارت.
دشهزاده حسیني بابازیارت.

بُست

بست هغه سیمه ده چې دریاناواوسیستا ن دوختونو یودمهموښارونو څخه ګڼل کیږي،دصنعت اوکرهنې په ساحه کي نړۍ په نړۍ کي لومړی سیمه همدابُست وو ،اوس هم بُست دیوې مشهورې سیمې په نامه خپل ځانګړیتوب ساتلې دی.

باندنۍ څلور خواوې یې

شمال پلوته:دکاریزسیمه. سهیل پلوته:دناوې ولسوالي.
ختیځ پلوته:دارغنداب سیند اوریګستان ، لویدیځ پلوته:دهلمند سیند.

سیمه ایزې څلور خواوې یې

شمال پلوته:دکاریزسیمه ، سهیل پلوته:دلچمۍ کلی.
ختیځ پلوته:دارغنداب سیند ،لویدیځ پلوته:هلمند سیند.

مشهوري څيرې يې

۱-ابراهيم بن يوسف العريف بُستي(امير) د(۲۷۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۲-ابومحمد اسحق محدث(بُستي) د(۲۸۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۳-شمس الدين حاجي بچه=شاعر=(بُستي) دژوند او مرګ نيټه يې نده معلومه.
۴-بشار(بُستي)دبُست مشر دژوند او مرګ نيټه يې نده معلومه.
۵-ابو حامد احمد(بُستي) اديب د(۳۳۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۶-ابو حامد احمد(بُستي) محدث دژوند او مړيني نيټه يې نده معلومه.
۷-علامه ابن حبان(بُستي)محدث د(۳۳۴)هـ ق په شا او خوا کې.
۸-محمد ابره احمد(بُستي) محدث د(۳۴۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۹-ابو معاذ حسن(بُستي) محدث د(۳۵۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۰-احمد ابي سليمان(بُستي) د(۳۵۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۱-احمد خطباني(بُستي) محدث د(۳۵۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۲-محمد اسحق(بُستي)قاضي د(۳۵۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۳-ابو احمد(بُستي)محدث د(۳۵۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۴-ابو سليمان محمد بن معشر(بُستي) د(۳۵۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۵-شيخ ابو الحسن(بُستي) د(۳۸۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۶-ابو القاسم(بُستي)عالم دزيږد او لږ دنيټه يې نده معلومه.
۱۷-ابو الفتح علي(بُستي)ليکوال د(۴۰۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۸-امام ابو بکر احمد(بُستي) د(۴۰۰)هـ ق په شا او خوا کې.
۱۹-عبدالله ابو بکر حصيري(بُستي) د(۴۰۰)هـ ق په شا او خوا کې.

۲۰-ابوبکرنحوي(بُستي)شاعر د(۴۰۰)هـ ق په شااوخواکي
۲۱-ابونصر(بُستي)دغزنوي دربارمنشي د(۴۰۰)هـ ق په شااوخواکي
۲۲-ابوسهل لکشن(بُستي)امير دزيږداوليږدنيټه يې نده معلومه
۲۳-شمس الدين محمد(بُستي) د(۴۳۰)هـ ق په شااوخواکي
۲۴-صفي الدين(بُستي)شاعر دزيږداوليږدنيټه يې نده معلومه
۲۵-دطبيعت انځورګرښکارندوی غوري(بُستي) دزيږداوليږدنيټه يې نده معلومه
۲۶-محمدبن علي(بُستي)دسوري تاريخ ليکوال د(۶۵۰)هـ ق په شااوخواکي
۲۷-ابوقاسم احمد(جهاني)د(اشکال العلم)ليکوال د(۴۷۸)هـ ق په شااوخواکي
۲۸-غلام رسول ملاکبلي(بُستي) د(۱۲۴۰)هـ ق په شااوخواکي
۲۹-نظرمحمد(بُستي)اولسي شاعر د(۱۲۲۲)هـ ق په شااوخواکي
۳۰-امام باقر(بُستي) دزيږداوليږدنيټه يې نده معلومه
۳۱-ملک مازنګ(بُستي) د(۱۳۴۰)هـ ش په شااوخواکي
۳۲-فقيرکريم(بُستي) د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي
۳۳-وکيل عطامحمدخان(بُستي) د(۱۳۴۱)هـ ش په شااوخواکي
۳۴-ملک عبدالستار(بُستي) د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي
۳۵-مولوي نجيب الله(کوڼ مولوي)بُستي په(۱۲۸۰)هـ ش کي زيږيدلي اواوس ژوندی دی عمريې(۱۱۱)کالوته رسيږي
۳۶-حاجي خداينورخان(بُستي) د(۱۳۲۰)هـ ش په شااوخواکي
۳۷-ملاطوراخندعالم(بُستي) د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي
۳۸-ملاعبدالودودعالم(بُستي) د(۱۳۵۰)هـ ش په شااوخواکي

۳۹-ملا فاضل محمد عالم(بُستي) د(۱۳۶۰)هـ ش په شا او خواکي.
۴۰-الحاج عبدالصمد جان اغا(بُستي) د(۱۳۶۰)هـ ش په شا او خواکي.
۴۱-خواجه نورنیکه(بُستي) د(۱۳۴۰)هـ ش په شا او خواکي.
۴۲-مشعل دارنیکه(بُستي) دزیږدا و لیږدنیټه یې نده معلومه.
۴۳-سیدنبي اغا(بُستي) دزیږدا و لیږدنیټه یې نده معلومه.
۴۴-شیخ پوري نیکه(بُستي) دزیږدا و لیږدنیټه یې نده معلومه.

دبُست مشهور کلي

۱-دیوارکلی۲-خاری کلی۳-عبدالسیدی کلی۴-فقیران کلی۵-رئیسی کلی ۶-مرسلی کلی۷-لچمی کلی۸-سرقله کلی۹-نواکشته کلی۱۰-باغ رموز(باغ هرموز)کلی۱۱-کوري خارکلی.

دبُست مشهوري هدېرې

۱-لویه هدیره ۲-دسیدنبي اغاهدیره۳-دمشعل دارنیکه هدیره۴-دشیخ پوري نیکه هدیره

دبُست تاریخي ځایونه

۱-دبُست تاریخي کلاه:مشهور ځای دی،چې دپخوانیتوب او تاریخ په اړه یې بیلابیل نظرونه موجود دي خوجوړښت یې په ګوته سوی تاریخ نه لري.بیاهم دخبرتیااوتفصیل په اړه یې دنورو کتابونو مطالعې ته اړتیاسته

۲-دامام ابن حبان مقبره:امام ابن حبان(بُستي)د(۳۳۴)سپوږمیزلیږدیزکال په شااوخواکي یې ژوندکاوه.لوی عالم،محدث اودوخت دسترومفتیانو څخه وو،دقضاوت دنده یې هم ترسره کوله.

اوس یې خلګ په امام اغاپیژني اوزیارت ته یې ورځي.

۳-دښت شیشک:په تاریخي کتابونوکي دښت طاق په نامه ذکرسوی دی،سلطان محمودغزنوي جوړکړی دی اودسردارمحمدداودخان په جمهوري دوره کي يې منځ هم به فني ډول په پخوخښتوډک سوی دی،ددې لپاره چې سربې راونه نړيږي اوداتاريخي طاق(شیشک) دوام ومومي.تراوسه ولاړدی.

دګرشک ولسوالي

دګرشک ولسوالي دهلمند ولايت دبانفوذه ولسوالیو څخه ده ،سوداګريز اوسيمه ايز موقعيت يې ډيرارزښت لري. دنفوذ اوګڼه ګوڼي يولامل يې دادی چې دافغانستان حلقوي عمومي سړک وړځخه تيرسوی دی څه موده مخکې چې نوې لښکرګاه نه وه جوړه سوې نوحکومت په بُست کي وو.

دنادرافشارفوځونوچې بست سقوط کړحکومت دګرشک سيمې ته نقل سواو داعلی حکومت بڼه يې درلوده .اودکندهارپه زون پوري يې اړه درلوده.داوخت په کندهارکي دحکومت بڼه دنائب الحکومت په ډول وه.

په ۱۳۴۳المريز ليږديز کال کي ددښت لګان پربيابان چې نوې لښکرګاه جوړيدل ،ديوه ماسټرپلان له مخې پيل سوه ورسره حکومتي بڼه هم بدله سوه.

دکندهار ولايت دسهيل لويديځي حوزې زون وبلل سو اوګرشک ولسوالي چې پخوادحکومت اعلی بڼه درلوده اوس په يوه ولسوالي واوښته اوحکومت اعلی په ولايت بدل سو ،دولايت مقررات اوحکومتي واحدونه په لښکرګاه کي لاجوړ سول.

باندنۍ څلورخواوي

شمال پلوته: دموسی کلاه،نوزاد،اوسنګين ولسوالياني

سهيل پلوته: دلښکرګاه پوري تړلې سيمه باباجي

ختیځ پلوته: دکندهارولایت میوند ولسوالي
لویدیځ پلوته: دنادعلي، واشیر ولسوالیاني

سیمه ایزي څلور خواوي

شمال پلوته: سمیناردښت،احسان لله کاریز،اوافغانی کلی
سهیل پلوته: دمالګیر سیمه
ختیځ پلوته: نهر سراج ،زمبلی،حیدرآباد ،ده آدم خان سیمه
لویدیځ پلوته: حوض خشک ،عبدالواحدکلی،عرب کلی-
مشهورکلي۱-نهرسراج لویه همواره سیمه۲-میرمند أب سیمه(میرمن دوغ)پدې هکله یوقول داسي دی چي میرمن دوغ د زردښت دمور نوم وو او دزردښت مور دلته اوسیدله۳-زمبلی سیمه۴--ده آدم خان کلی۵--سیدان کلی۶--حیدز آباد سیمه۷--آب پا شک۸--مالګیر-

مشهور شخصیتونه

۱-الحاج خوشدل خان قومي مشر د ۱۳۳۰ه ش په شاوخواکي.
۲-الحاج وکیل علاوالدین قومي مشراودلښکرامیر
د۱۳۶۰ه ش په شااوخواکي.
۳-الحاج مولوي امیرمحمد صاحب دیني جید عالم
د۱۳۶۰ه ش په شااوخواکي.
۴-الحاج معلم عبدالرحمن عالم اوروښان فکره
د۱۳۶۰ه ش په شااوخواکي.
۵-الحاج محمدظریف آخندزاده دیني عالم
د۱۳۶۰ه ش په شااوخواکي.
۶-الحاج عبدالقادرخان قومي مشر
د۱۳۶۰ه ش په شااوخواکي.

۷-سناتورحبیب الله خان دمشرانو دجرګې غړی
د۱۳۶۰ه ش په شااوخواکې.
۸-الحاج معلم عبدالهادي(حماد) عالم اوروښان فکر
اوس ژوندی دی.

مشهوري هديرې

دمالګیر لویه هدیره ،دسید تاجدارلوی ولي هدیره ،دزمبلي هدیره ،دحیدرأباد هدیره ،دده آدم خان هدیره ،دعمومي عیدګاه سره هدیره ،دمیر داؤد اغا هدیره.

مشهور زیارتونه

۱-دسید تاجدارولي زیارت۲-دسید څراغ زیارت-دبازارپه منځ کې.
۳-دمیرداؤد أغازیارت-

دګرشک ښارمشهور مسجدونه-

۱-دمدیرابراهیم خان په نوم مسجد جامع((دامام اعظم مسجد جامع)
۲-دګرشک عیدګاه مسجد جامع (دګدامونوشاته)
۳-دمیرزا خان مسجد جامع(ددښت دکورونوپه سیمه کې)
۴-مرکزي امام باره

دګرشک ښار مشهور دموټرانو تم ځایونه

۱-دنوزاد اډه۲--دلښکرګاه اوکندهارا ډه-داوبازانو دکلي په اړخ کي

دګرشک ولسوالۍ مشهوري کلاوي اوبیلابیل معلومات

۱-دګرشک کلاه چي دنوزاد په نوم له اډې اودګرشک ښار دشمال څنډې سره موقعیت لري،داکلاه دبالاحصاربڼه لري،ځکه په لوړه تپه جوړ ه اودجوړشکل يې زمونږ د ادعاء ثبوت دی.

۲-زورښار(ښاربند):دمالګیرپه سیمه کي: دانبارپخواجوړ ووخو په هکله يې نور معلومات نسته خواوس دغه ښارترخاورولاندي دی.اودیوې تپې بڼه لري.

۳-حوض خوشک(وچ ناور)دګرشک لویدیځ لورته موقعیت لري دا حوض یووخت آباد وواو ډیري اوبه پکښې ډنډوې، دا نده معلومه چي چا کیندلی دی اودځه لپاره يې کیندلی دی، خودومره ثابته ده چی داوسني ګرشک ترابادد،بدومخکي يې ستون درلود.اوس وچ دی اوټوله سیمه ددغه وچ حوض(حوض خشک).په نوم یادیږي.

دسیدتاجدارولي زیارت،دا زیارت ډیرمشهوردی اوهرکال دوري دمیاشتي پرلومړۍ نیټه دکلتوری جشن په مناسبت وربانديې جنډه یابیرغ په یو لړ شانداره مراسمو پورته کیږي،.دربارواوملنګیان لري، دورځي څوځله په خاصووختونوکي نغاره هم دزیارت دیوه انګړ دبام څخه پورته کیږي دامعلومه نده ده چی سیدتاجدارولي څوک وو؟اودکوم ځای وو؟خوډیرپخوا وفات اودلته دفن سوی.

.ددې زیارت څنګ ته یوتکیه موجوده ده چي خلګ ورپکښې تفریحي وخت تیروي.

۵-سره کلاه:

۶-د ده آدم خان کلاه-

۷-بندبرق په ۱۳۱۲ ه ش کال کی دبغراء دکانال دایستلوکار دفواید عامه وزارت له خوا په بزګرواوکارګرو پیل سو دامهال دوهمه نړیواله جګړه وه ،ددې کانال قرارداد (موریسن نودسن)کمپنی له خوا لاسلیک سو ،ددغه قراردادپه ترڅ کي دبغراکانال دبرینبنافابریکه اودبغراعمومي پل هم جوړسو دابند دګرشک په ۴۲ کیلومتري کي جوړسوی دی دبغراپرسر باندې یو تعمیرهم جوړسوی دی چې ۳۰ متره اوږدوالی لري، ۱۰ متره پلنوالی او ۸ متره لوړوالی لري، شپږلوی اطاقونه اوسالونونه لري. مخته یې دهلمند سیند بهیږي شاته یې لوی پارک او دګلانو پارک موجود دی.

۶-دسراج پروژه-دادهلمند ډیره پخوانی پروژه ده چې دامیرحبیب الله خان په وخت کي یې دبیرته کیندلو کارپیل سو ،د

نائب الحکومت سردارمحمدعثمان خان دامریت په ساحه کي پیل سو کله چې امیرمرسوددې پروژې کارپاته سو

۱۳۱۳ه- ش کال داعلي حضرت محمدظاهرشاه خان دواکمنی په دوهم کال دکندهار نائب

لحکومت سردارمحمدعثمان خان ترامریت لاندې بیادا پروژه پیل سوه دا ویاله دیوه المانې متخصص مستر(سیمه)تر لارښوونې لاندې دافغاني کارګرو پوسیله وکیندل سوه اود۱۳۱۴ ه ش کال دغبرګولي دمیاشتي په ۲۲ نیټه په رسمي ډنه دنهر سراج ویاله داوبولپاره برابره سوه،

دګرشک ولسوالي تولهٔ خلګ داسلام ددین پیروان دي، اوپه قبیلوي لحاظ اکثره پښتانه دي لږڅه اهل تشیع هم پکښې اوسیږي.

دنادعلي ولسوالي

نادعلي ولسوالي يوه سرسبزه پريوه خاصه پرمختللې عصري نقشه جوړه اوهواره سيمه ده،ځمکي ئې دويالو،زابرونوترمنځ محدودي دي،پرهروسلوجريبو(صدي)باندې يوه څلورلاري اودعمومي سړکونويوه برخه سته،زيات شمېراوسيدونکي ئې دزياتوپښتون ميشته سيمو څخه دظاهرشاه دحکومت په وخت کې دناقلينوپه نوم راوستل سوي دي،اواوس دناقلوپه نوم يادېږي.اولادونه ئې په هلمندکي زېږېدلي اوزلميان سوي دي چې اوس هلمنديان بلل کيږي.پخوانادعلي يوې لرغوني اوتاريخي سيمي ته ويل کېدل چې داسيمه دنيمروز ولايت ته څېرمه پرته ده اوس هغه ته خلګ نادعلي نه وائي اواوس لښکرګا ښارته څېرمه لوېديز پلوته پرته ګڼه مېشته سيمه نادعلي بلل کيږي.

باندنۍ څلور خواوي

شمال پلوته:-دلښکرګاه ښارپوري ترلې سيمي اودواشېر ولسوالي څنډې.

سهېل پلوته:-دمارجې ولسوالي.

ختيځ پلوته:-دلښکرګاه ښارپوري ترلې سيمي.

لوېديځ پلوته:-نا اباده دښتونه(دمارګودښت).

سيمه ايزي څلور خواوي

شمال پلوته:-دچاه انجيرمانده.

سهېل پلوته:-دګروپ شش سيمي دپای کورونه اودکاريز صدي(کاريز سيد)کلي.

ختيځ پلوته:-دحاجي عبيدالله په نوم څلورلاري،لوی زابر،داسحاق زيوکلي اودخليفه خشکيارکورونه.

لوبديځ پلوته-دنورزيوکلی،زهرا اباد،شين کلی ،خوشحال کلی،عبدالله قلف اود بغراءکانال.

مشهور کلي

شين کلی،زرغون کلی،لوی باغ کلی ،چهارميرزاءکلی،نثاراحمد په نوم څلورلاري ، دحاجي عبيدالله په نوم څلورلاري ،دعربو کلی ،دخليفه خشکيارپه نوم کلی ، دنورمحمد خان په نوم کلی ،ناقل اباد کلی ،عبدالله قلف ،سيداباد کلی ،گروپ شش کلی ،دنادعلي ولسوالی قومونه ،دنادعلي ميشت خلګ تولهداسلام دمقدس دين پيروان دي ،

خلګ ئې پښتانه دي اونورقومونه هم لرلې پکښې اوسيږي.

چې بلوڅان،خروټي،دفتاني،ناصران،علي زی اونورزی يې مشهوري قبيلي دي.

مشهور اومخور خلګ ئې

الحاج وکيل صفر قومي مشر د ۱۳۵۰ هـ ش په شاوخواکي.

حاجي خليفه دوست محمد روحاني شخص د ۱۳۴۸ هـ ش په شاوخواکي.

پاچاه خان لالا قومي سپين ږيری د ۱۳۸۲ هـ ش په شاوخواکي.

الحاج ملا محمد(حنيفي) ليکوال اوس ژوندی دی.

ادم صفت الله شاعر اوس ژوندی دی.

الحاج خليفه خشکيار روحاني شخص اوس ژوندی دی.

حاجي محمد سرور (ذاکر) قومي مشر اوس ژوندی دی.

حاجي غوث الدين قومي مشر اوس ژوندی دي.

محمد شريف(رحمت يار) دلښکر امير اوس ژوندی دی.

قوماندان سادات دلښکر مشر اوس ژوندی دی.

الحاج محمد ادريس نوري شاعر اوعالم ژوندی دی.

مهم بازار ګوتې

دولسوالی مرکز بازار.
دزرغون کلي بازار ګوتی.
دسید اباد کلي بازار ګوتی.
ویالې او مهم زابرونه
زړه بغراء.
دحاجي عبیدالله کلي زابر.
دچار میرزاء کلي زابر.
دنادعلي ولسوالی په اړه دابراهیم (عطائي) کتاب (هلمند دکلتور په ساحه کي) لږځه معلومات ټکي په ټکي رانقلوو:
دبغراء کانال چې د(۴۰) کیلومترو په فاصله جنوب ته ورسیږي نو اوبه ئې یوه پراخه دښت ته رسیږي، اوهغه ځای ته نادعلی وائي، نادعلی یوه پراخه زراعتي ساحه ده چې تقریبا ۴۰۰۰۰ جریبه ځمکه ترزراعت لاندې سوې ده.
په عمومي ډول(۲۱۱۰۰) ایکتاره ځمکه دکرهنې قابلیت لري پدې کې زیاته برخه څلورمه درجه او باقي دویمه او پنځمه درجه ځمکي دي.
کوم عمده کارونه چې په دې ځای کي انجام سوي دي په لاندې ډول دي:-
۱:- فرعي ویالې ۳۱۴ کیلو متره.
۲:- فرعي لښتیان ۲۹۴ کیلو متره.
۳:- سطحي زابرونه ۷۱ کیلو متره.
۴:- پوښلي زابرونه ۷۸ کیلو متره.
۵:- ژور زابرونه ۷۰ کیلو متره.
۶:- دځمکو هوارول ۲۴۰۰۰ جریبه
۷:- په لاس ایستلي زابرونه ۵۰ کیلو متره.

تردې ځایه دهلمند دکلتورپه ساحه کې کتاب معلومات و.
په پورته لیکل سوي معلومات باندې سربیره ډیري هرارخیزي پرمختیاوي منځ ته راغلي دي چې دنادعلي ولسوالۍ په ټوله بحث کې ئې توپیرونه جوت دي ،خولا هم دجګړه ایزوحالاتوپه شتون سره ئې اندازه لګول دفني اومسلکي مامورینو یاخپرونکواولیکوالانوپه واسطه ګران کاردی، اوسني معلومات هم یومخ ډقیق نسو بللای ځکه دسیمي حالات مساعدنه دي

د سنګین (سروان کلا) ولسوالي

سنګین(سروان کلا) ولسوالي دهلمند سیند سره په اوږدو یوه غزېدلې ولسوالي ده چې دموقعیت له مخې هلمند ته د ډیرې نېکلا بخښونکې ده او نژدې دهلمند ولایت په منځنۍ برخه کې ځای لري .دسنګین د ولسوالۍ په لویه هدیره کې یو زیارت سته چې ددې سیمې خلک ورته په درنه سترګه ګوري، دسپین ږیروپه وینا دا د دې ځای د لومړیو زیارتو څخه دی؛ددې زیارت نوم د پخوانیو خلکو په وینا (خواجه تګین) ؤ چې د وخت په تېرېدو سره دا نوم خواجه سنګین سو اوس خواجه د خولې لوېدلی یوازي سنګین ویل کیږي.

دسنګین (سروان کلا) باندنۍ څلور خواوي

- شمال ته: کجکي اوموسی کلا ولسوالي
- سهیل ته:دګرشک او میوند ولسوالي
- ختیځ ته:دکندهار ولایت دغورک ولسوالي
- لوېدیځ ته: د ګرشک ولسوالي

سيمه ايزي څلور خواوي يې

- شمال ته: د گرم آب (گرماو) کلی
- سهيل ته: د مالي مند سيمه
- ختيځ ته: دوشتان کلی
- لوبديځ ته: د هلمند سيند

دسنگين ټوله خلګ پښتانه او داسلام د سپېڅلي دين پيروان دي چې اسحق زی، هلکوزياوبارکزی يې مشهوري پښتني قبيلې دي.

د سنگين (سروان کلا) مشهور او تاريخي شخصيتونه

۱: د پښتوژبې د ژباړي اونثر بنسټګر ابومحمد هاشم بن زيد سرواني بابا د (۲۲۳ څخه تر ۲۹۷) هـ ق پوري.

۲: ملک يوسف سرواني: په (۷۹۲ هجري د تيموريانوپه دوره کي دهمدې سيمي خان او واکمن ؤ، وګورئ د افغانستان لنډ تاريخ ۲۰۸ مخ.

۳: عزيزالله واصفي سرواني: د ظاهرشاهي دورې وزيرتر دا مهاله ژوندی دی

۴: الحاج مولوي عطا محمد: د لښکر امير د (۱۳۳۰ هـ ل څخه تر ۱۳۸۷) کال پوري

۵: الحاج دادمحمد خان سرواني د لښکرمشر: له (۱۳۴۰ هـ ل څخه تر ۱۳۸۸) کال پوري.

۶: الحاج اغا نورخان سرواني د لښکرمشر: له (۱۳۳۰ هـ ل څخه تر ۱۳۶۸) کال پوري

۷:الحاج مولوي دوست محمد سرواني (پيرمولوي) : له (۱۳۲۰ هـ ل څخه تر ۱۳۷۰) کال پوري.

۸: الحاج صالح محمد اغا سرواني سادات دلبنکر امير : له (۱۳۳۰ څخه تر ۱۳۲۵)هـ ل کال پوري.

۹: الحاج ملاامير محمد اخند ، جيد ،لوی اوښه عالم : له (۱۳۲۵ څخه تر ۱۳۸۴)هـ ل کال پوري.

۱۰: شيخ عباس سرواني: دتاريخ شهرشاهي ليکوال (۹۰۰ هجري-۹۲۵) کال پوري.

۱۱: شريف الله دوست سرواني (څوان ليکوال): (اوس هم ژوندی دی.

۱۲:انجنير محمد اسماعيل (سرواني).اوس ژوندی دی.

دسنگين (سروان کلا)زيارتونه

۱ : خواجه تگين (خواجه سنگين بابا) دسنگين په هديره کي ښخ دی.

۲ : د ملاصوفي نيکه زيارت.

۳: د حاجي لالا (حاجي قيوم جان آغا زيارت).

۴ : د غرغري (گرگري بابا) زيارت.

۵ : د بابا غلتان زيارت.

۶ : د شل گزي بابا زيارت.

۷ : د مست اغا (بابا) زيارت.

۸ : د سيد مومن آغا زيارت.

۹ : د مالي نيکه زيارت.

۱۰ : د ملا شېرمحمد نيکه زيارت دسروان کلا په بوستانزو کلي کي.

۱۱ : په گرم آب (گرماو) کي د حضرت علي (رض) دسجدې ځای اود هغه د آس پلونه چي اوس يې هم خلک درناوي ته ورځي.

۱۲: د ملا ادم نیکه زیارت (د شین غزیانو په هدیره کې).

مشهوري کلاوي يې

۱: د سروان غټه او کوچنۍ کلا.

۲: د خاک کش (د خاورو مانۍ، خلکو په ځمکو ګډه کړې او يوازې نوم يې پاته دی ښايي دا مانۍ يا کلا د صفاريانو په دوړې (۲۷۰ هجري) اړه درلوده

۳: د مالي مند (مالموند) کلا.

۴: د سنګين (تګين) کلا.

مشهور غرونه يې

۱: د سروان غرونه ۲: د سپېرکي غر ۳: د شرمښانو غر ۴: د ډبرۍ غر ۵: د سورۍ ګاري غر ۶: د سروان کلا او موسی کلا تر منځ اوږده غزېدلې شاګۍ (تپه) ۷: د ګرم اب غر

مشهوري هديرې

۱: د سنګين لويه مرکزي هديره. ۲: د غارګۍ هديره. ۳: د بابا فقير هديره.

۴: د مالي مند لويه هديره ۵: د وطن په منځ کې ځای پر ځای مقدس ځايونه او قبرونه.

د ناوې ولسوالي

د ناوې يا خلج (خلچ) ولسوالي ځکه په دې نامه يادېږي چې د مېزابې يا ناوې په ډول اوږده پرته سيمه ده.

د کجکي دبند څخه بيا تر شملان (شمالان) پورې دغه ټوله سيمه په خپله خوا کې د هلمند سيند اوږده رودخانه لري، داوبو مسير د رود خانې بڼه لري او ناوه بلل کېږي.

پاته دي نه وي چي نومورې سيمه ټوله په دې نامه نه يادېږي ،دسيمو تغيردحالت او وضعيت په تغير پوري تړلی دی دناوې جغرافيايي بڼې هم د وخت په تېرېدوسره تغير منلی اومونډلی دی.

يو وخت داټوله سيمه د(بارکزيودناوې) په نامه يادېدل دا ځکه چي بارکزي اقوام پکښې اکثريت وه.

هغه وخت چي کندهار ته (رخج) ويل کېده دناوې سيمه د خلج،خلچ،غرج اوگرج په نومونو يادېدل اوس هم دا نومونه د(خلج او خلچ) په نامه يادېږي چي د يوه کلي په اندازه پاته دي او يوه اونيزه مينله يا گنج پکښې جوړېږي ، خودښارپه مفهوم نه دی.کله چي دگرشک ولسوالی داعلی حکومت بڼه درلوده ،ناوه د مالگيره څخه تر شملان پوري اوږده غزېدلې سيمه وه کله چي دلښکرگاه ښار دنوي تشکيلاتو له مخي ورغول سو گرشک داعلی حکومت بڼه دلاسه ورکړه،هلمند دکندهار څخه بيل ولايت اولښکرگاه يې دادارې واحد په توگه رسمي وپېژندل سوه.

دڅاه انځر(چاه انجير) ،بابا حاجي(باباجي) اوبولان سيمي دناوې څخه بيلي او په مرکز لښکرگاه پوري و تړل سوې .دهزارجفت دويالې په جوړولوسره دشملان سيمه هم دناوې څخه بېله او په گرمسير ولسوالی پوري وتړل سوه ، دناوې ولسوالي دشمال څخه دسهيل په لور اوږده غزېدلې پرته ده.

دناوې باندنۍ څلور خواوي

شمال ته: مرکز لښکرگاه اودبولان لرغونې سيمه

سهيل ته: دگرمسير ولسوالي

ختيځ ته: دريگستان سمه.

لوېديځ ته: د مارجې(مارگې) ولسوالي.

سیمه ایزي څلور خواوي

شمال ته: د عینک کلی.

سهیل ته: د سرخ دس سیمه

ختیځ ته: هلمند سیند او ریګستان

لوېدیځ ته: د مارجې دښته چې اوس په کرهنیزه ځمکه اوښتې ده.

دناوې مشهور کلي

۱: عینک کلی۲: خسرواباد کلی۳: خلج (خلچ) کلی۴: هزار اسپ، لوړ او کښته کلي۵: ګوره ګی (ګوهر ګین) کلی۶: سرخ دس (سرخ دژ، سره کلا) کلي۷: شورشورک کلی۸: لنډې ښاخ کلی.

د ناوې ټول اوسېدونکي د اسلام دمقدس پیروان دي او ټول پښتون ټبر پکښې میشت دي چې بارکزی، پوپلزی، نورزی، کاکړان اوناقلین یې مشهوري پښتني قبیلي دي.

د ناوې ځینې اوسېدونکي پخوانیو حکومتونو له زابل (کلات) او غزني ولایتو څخه ناقلین راوستلي دي.

دناوې مشهور شخصیتونه

محمد هاشم خان: قومي مشر له (۱۳۲۱ هجري لمریزځخه تر ۱۳۵۰) کال پوري.

حاجي سید خان: قومي مشر له (۱۳۲۳ څخه تر ۱۳۵۲) لمریز کال پوري.

وکیل منیرخان: قومي مشر له (۱۳۲۵ څخه تر ۱۳۷۲) لمریز کال پوري.

نظام الدین خان: قومي مشر له (۱۳۱۳ څخه تر ۱۳۵۱) لمریز کال پوري.

حاجي خالقداد خان: قومي مشر له (۱۳۲۲ څخه تر ۱۳۵۸) لمریز کال پوري.

حاجي محمد عمرخان: قومي مشر له (۱۳۱۲ څخه تر ۱۳۸۲) لمریز کال پوري.

حاجي عبدالخالق : قومي مشر (۱۳۲۵ څخه تر ۱۳۷۰)لمريزکال پوري.
حاجي شېرمحمد خان: قومي مشر (۱۳۱۵څخه تر ۱۳۷۴)لمريزکال پوري.
مدير نثاراحمد خان : قومي مشر(۱۳۳۱ څخه تر ۱۳۸۴)لمريزکال پوري.
عبدالحق جان اغا : روحاني شخصيت(۱۲۲۰څخه تر ۱۳۵۰)لمريزکال پوري.
سيدگل زارنيکه : روحاني شخصيت (۱۲۵۸ څخه تر ۱۳۵۵)لمريزکال پوري.
صاحب نيکه: روحاني شخصيت(۱۲۹۰ څخه تر ۱۳۵۰)لمريزکال پوري.
سعيداحمد (ژړوجان اغا): روحاني شخصيت(۱۲۹۸ څخه تر ۱۳۵۴)لمريز کال پوري.

دناوې مشهور زيارتونه

۱: ميرسالم(اتش نفس بابا) - دعينک په کلي کي
۲: خواجه سربري بابا - داهم په عينک کي
۳: ژړصاحب - په هزار اسپ سيمه کي
۴: خواجه اکان بابا (خواجه اتمام بابا) - په خلج کلي کي
۵: ملاصلواة نيکه.
۶: علي جنگ صاحب.
۷: عنايت نيکه - د باغ رباط په کلي کي .
۸: ملاعيان بابا - په سرخ دژ (سرخ دس) کي.

دناوې مشهورې هديرې

۱: دخلج هديره۲ : دباسلان دکلي هديره۳ : دهزاراسپ هديره۴ : دعينک هديره ۵ : د خسرو اباد هديره۶ : د گوهرگين هديره۷ : دلنډې بناخ هديره۸ : دشورشورک هديره

د دوی ديوه هم نيټه او ژوند ليک نه دی څرګند ، ګنبدي پر رغول سوي دي ، نارينه او ښځينه د درناوي لپاره ورځي .په دوی کي ترټولو لوی زيارت د(خواجه اکان) بابا دی د ځايي سپين ږيرو او مشرانو له خولې چې نوموړې دخپل وخت ډېر لوی عالم ،هوښيار اوسخي سړی تېر سوی دی ، دده دمزار په خوا کي دپېړيو پېړيو راهيسي د اخترونو ،جمعې او نورو ورځو ځانګړې مېلې کېدلې او دهيواد له ګوټ ګوټ څخه به ورته خلګ راتلل او دا مېلې به يې تودې ساتلې.

د جمهوري نظام پر مهال دا مېله وترل سوه او دلښکرګاه ښار ته راوړل سوه ، په(۱۳۷۱ هجري لمريز)کال کي چې کله مجاهدين بري ته ورسېدل دا مېله ببرته پرانيستل سوه ، دطالبانو دواکمنۍ په وخت کي ببرته وترل سوه اودناوې ولسوالۍ مرکز ته راوړل سوه.

دناوې ولسوالۍ دپخواني مرکزکارځايونه هم د خواجه اکان زيارت ته نژدې جوړسوي دي ،دولسوالۍ اوسنی بازار اومرکز دهيواد په کچه نه بلکي ديوې ولسوالۍ دبازارپه کچه دجمعه بازار په نوم دپېړ اوپلور مهالنۍ هټۍ جوړيږي.

دکجکي ولسوالي

دکجکي ولسوالي: دهلمند ولايت يوه دهغو ولسوالیو څخه ده چې موقعیت یې دښکلا،پیداوار، ورتیا تاریخ اولرغونیتوب دپلوه په توله نړۍ کې شهرت لري.

دکجکي ولسوالي:دپاچاهیو،جګړو،قومونو،بریښنا فابریکې، دهلمند سیندبند، کاریزونو،رنګارنګ میووا وصنعتونو وطن دی

دکجکي ولسوالي دیوې پراخې سیمې لرونکې ولسوالي ده چې دکجکي په نامه دګڼ میشتي او رودباره سیمې سربیره دزمېنداور(زیندا ور) لرغونې لویه اوپراخه سیمه هم دجغرافیایي ویش له مخې له ځان سره لري مخور عالمان اوشاعران لري.

ښه به دا وي چې په لنډ ډول ددې ولسوالۍ پر هر اړخ به یې جلا جلا ورغیږو.

باندني څلور خواوې يې

شمال پلوته:دباغران ولسوالي بغني سیمه

سهیل پلوته:دسنګین ولسوالي دساروان کلا سیمه

ختیځ پلوته:دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالي دغورک علاقداري

لوېدیځ پلوته: دموسی کلا ولسوالي-

سيمه ايزي څلور خواوي يې

شمال پلوته: دروښن آباد ،جوی دراز ،آبقول ، خمبلاک اوغول میش کلي

سهیل پلوته: دګرم آباد کلي

ختیځ پلوته: سفید حصارناوه ،دخوګیانوکلي، اودکجکي یوه سلسله غرونه

لویدیځ پلوته: دشاه کاریز اوده کلي

مشهورو طنونه يې

۱-لوړکجکي ۲-کښته کجکي ۳-سفید حصارناوه ۴-علي أبادناوه ۵-دچهارباغ کنجک ناوه ۶-لړکن ناوه ۷-درغني ناوه ۸-زاړه ښارناوه ۹-اذان ناوه ۱۰-ده بابا ناوه

مشهوري تاريخي څيرې اونامداره شخصيتونه

۱-لومړنی حماسي شاعر امیرکروړ په ۱۳۹ هـ ق کال کي

۲-سهراب بن رستم بن زال بن سام بن ګرساب زمینداوری دزردشت دزماني ۷۰۰ کاله ترمیلاد دمخه شاوخوا ،المسالک و الممالک البلدان کتابونو دوی زمینداوران باللي.

۳-ابوالمعاني زمینداوری دمنهاج العبدین لیکوال

۴-بایتګین زمینداوری دزمینداوروالي د ۴۰۰ هـ ق شاوخوا

۵-خواجه ابوسعید عبدالغفارفاخر زمینداوری دسلطان مسعود منشي د ۴۲۰ هـ ق شاوخوا

۶-ابوالقاسم داوري لیکوال د ۵۰۰ هـ ق شاوخواکی

۷-تایمني دپښتولومړني چاربیته ویونکی شاعر زمینداوری ۵۸۰ هـ ق شاوخواکی.

۸-عبدالله داوری لیکوال د ۲۵۰ هـ ق شاوخواکی
۹-اکبر زمینداوری دغزلبولوامام د ۷۸۰ هـ ق شاوخواکی
۱۰--نورمحمد خان زمینداوری (امیرافغان)د ۱۱۰۰ هـ ق شاوخواکی
۱۱-غازي اخترخان زمینداوری د ۱۲۰۰ هـ ق شاوخواکی
۱۲-سلیم زمینداوری د ۱۳۰۰ هـ ق شاوخواکی
۱۳-سلطان محمد خان زمینداوری د ۱۳۰۰ هـ ق شاوخواکی
۱۴-عبدالرحمن زمینداوری شاعرد ۱۳۰۰ هـ ق شاوخواکي
۱۵-صاحب خان کاکا قومي مشردکښته کجکي د ۱۳۴۰ هـ ق په شاوخواکي
۱۶-محمد ایوب زمینداوری د ۱۳۰۰ هـ ق شاوخواکی
۱۷-محمد معصوم خان دلوړکجکي قومی مشرد ۱۳۳۰ هـ ق شاوخواکی
۱۸-علی محمد خان قومي مشردکښته کجکي د ۱۲۰۰ هـ ق شاوخواکی
۱۹-لوی امان الله خان دلوړکجکي قومی مشرد ۱۳۷۰ هـ ق شاوخواکی
۲۰-امان الله خان قومي مشردکښته کجکي د ۱۳۷۰ هـ ق شاوخواکی
۲۱-محمد افضل خان دلوړکجکي قومی مشرد ۱۳۶۰ هـ ق شاوخواکی
۲۲-حاجی تاج ګال خان زمینداوری قومی مشرد ۱۳۸۰ هـ ق شاوخواکی
۲۳-حاجی عبدالحمید خان دولسي جرګې وکیل د ۱۳۸۰ هـ ق شاوخواکی
۲۴-اخترمحمد خان دکجکی حکومتی مامورد ۱۳۸۰ هـ ق شاوخواکی
۲۵-الحاج مولوي عبدالستار دکجکي نامتوعالم د ۱۳۰۰ هـ ق شاوخواکی
۲۶-پیرونیکه دکوړکجکي روحاني شخص د ۱۳۳۹ هـ ق شاوخواکی
۲۷ فقیرکاکل نیکه زمینداوری روحاني شخص د ۱۳۱۰ هـ ق شاوخواکی
۲۸-حاجي ملا خیرالله اخند دکښته کجکي روحاني شخص د ۱۳۵۰ هـ ق شاوخواکی
۲۹-الحاج ملا ولي محمد اخند دکجکي نامتوعالم د ۱۳۴۲ هـ ق شاوخواکی

۳۰-الحاج ملانظرمحمداخند دکښته کجکی نامتوعالم د۱۳۲۰ هـ ق شاوخواکی
۳۱-حاجي دين محمد خان اخندزاده زميندارى د۱۳۰۹هـق شاوخواکی
۳۲-اخوندصاحب زميندارى د۱۳۱۰هـق شاوخواکی
۳۲-شامقصود زميندارى د۱۳۸۰هـق شاوخواکی
۳۴-تنګی بابا کجکي د۱۱۰۰هـق شاوخواکی
۳۵-حاجی ملادلبراخند زميندارى د۱۳۵۰هـق شاوخواکی
۳۶-الحاج ملا غلام رسول اخندزاده زميندارى د۱۳۵۰هـق شاوخواکی
۳۷-حاجي ملا کامران اخند زميندارى روحاني شخص د۱۲۹۰هـ ق شاوخواکي
۳۸-حاجی ملاشفا اخند زميندارى روحاني شخص د۱۳۴۰ هـ ق شاوخواکی
۳۹-دوست محمد خان زميندارى قومی مشر(بلبل افغان)د۱۳۵۰هـ ق شاوخواکی
۴۰ حاجي ملافيض الله(ملافيضول) دزميندار دکاريزدوران کلي(ده بابا ناوه) د۱۳۰۰ه ق شاوخواکي
۴۱-الحاج عبدالرحمن اخند دلښکر امير اوس ژوندی دی
۴۲-الحاج محمد رسول اخندزاده زميندارى دلښکر امير د۱۴۰۰ هـ ق شاوخواکی
۴۳-الحاج محمدنسيم اخندزاده زميندارى دلښکر امير د۱۴۰۰هـ ق شاوخواکی
۴۴-الحاج خليفه ملاقطب الدين نقشبندي دکښته کجکي روحاني شخص اوس ژوندی دی.

۴۵- الحاج مولوي محمد خواص نقشبندي زميندارى نامتوعالم اوس ژوندى دى .
۴۶ -الحاج محمد امين جان اخندزاده نقشبندي زميندارى نامتوعالم اوس ژوندى دى
۴۷-الحاج مولوى فيض محمد دكجكي نامتو عالم اوس ژوندى دى
۴۸الحاج ملا محمد سرورزميندارى نامتوعالم اوقومى مشر اوس ژوندى دى
۴۹-الحاج علم گل زميندارى اوقومى مشراوس ژوندى دى

دكجكي ولسوالى مهم بازارگوټي

۱-دتنگى بازارگوټى
۲-د ده بابا بازارگوټى
۳-دگندم ريز بازارگوټى
۴-د كنبته كجكي بازارگوټى
دكجكي ولسوالى خلک ټوله داسلام دمقدس دين پيروان او په ټول كي اكثره پښتانه ټبره خلک دي

دبرق فابريكه اوداوبوبند

دهلمند سيند خارجي كمپنى (مورسن لورسن)له خوا دقرارداد په وخت كى دبرق دتوليد په موخه ديوه لوى بند څښتن سو دجوړيدو دكارپيل يى (۱۹۵۰)يا(۱۹۲۹)ميلادى كال دمى په مياشت كي دى،او (۱۹۳۱)اويا (۱۹۵۱) زيږديز كال دنوامبر په مياشت كى پاى ته ورسيد
دكجكي بند دگرشک ښارځخه ختيځي(شمال ختيځي)خواته په ۹۰ كيلومتره مسافه كي موقعيت لري

ددې بنددديوالونولوړوالی ۹۴ متره ، اوږدوالی يې ۲۷۳ متره اوپلنوالی يې ۴۰۰ متره دی.
بند چې کله پوره له اوبو ډک سي نو حجم يې ۲۲۲۵۰۰۰ متره مکعب دی.
دبرق دتوليد مجهزه فابريکه اودولسوالی مقرې ترڅنګ جوړ سوی.
دکجکی بند د ۱۲۰۰۰۰ کيلوواټه بريښنا دتوليد وړدی.

دمارجې ولسوالي

دمارجې ولسوالي دطالبانو تر واکمنۍ دمخه دنادعلي د ولسوالی برخه وه کله چې طالبان واک ته ورسيدل نوموړي سيمه دولسوالی په نوم يادە سوه کله چې دطالبانو تحريک سقوط وکړ اودحامد کرزي تررياست لاندي حکومت تشکيل سولاهم دمارجې بر خليک سم نه وو معلوم.
په ۱۳۸۹ هل کال دافغانستان داسلامي جمهوريت لخواء حاجي عبدالظاهر (اريان) دمارجې ولسوالی دولسوال په توګه په لومړي ځل رسمي ورپيژندل سو اونوموړي ولسوالی رسمي اودولسوالی بڼه يې خپله کړه.
دمارجې ولسوالي هم دسهيل پرلور دناوې دولسوالی په شان اوږده غزيدلې پرته ولسوالی ده اودنادعلي په شان دويالواوزابرانوترمنځ دابادوځکموځخه جوړه ولسوالي ده.

باندنی څلور خواوی ئی

شمال پلوته:- دنادعلي ولسوالي
سهيل پلوته:- دګرمسير ولسوالي
ختيځ پلوته:- دناوې ولسوالي
لويديځ پلوته:- دمارګو پراخه دښتي

سیمه ایزه څلور خواوی یې

شمال پلوته- دکمپ سیمه

سهیل پلوته- دشین غزک اوسیستاني سیمي

ختیځ پلوته- دناوې ولسوالی سره شریکه پراخه دښته

لویدیځ پلوته- هغه پراخه دښته چې هلمند اونیمروز سره نښلوي

مشهورې سیمې اوکلي یې

۱- دکمپ سیمه ۲- دتریخ ناورسیمه ۳- کروڅلور لاري (چهارراهی)۴- دحاجي نورمحمد په نوم څلور لاري(چهارراهی)

۵- لویه څلورلاري(چهارراهی)۶- دلیسې څلورلاري(چهارراهی)۷- دوکیل وزیر څلور لاري(چهارراهی)۸- دیازده کلی ۹- شین غزک کلی ۱۰- سیستاني کلی

مشهور ځایونه چې په بلاک شهرت لري

۱- بلاک ۹ ۲- داڅکزیو بلاک ۳- وردکو بلاک ۴- دهشتیانو بلاک۵- دګیدړو بلاک۶- IC بلاک ۷- دعلي زیوبلاک

مشهورې څیرې ئې

۱- حاجي نور محمد اکا د۱۳۰۰ هـ ش څخه تر۱۳۶۷ هـ ش پورې

۲- خلیفه محمد شاه د۱۳۲۰ هـ ش څخه تر۱۳۸۶ هـ ش پورې

۳- وکیل باریدادخان د۱۳۰۳ هـ ش څخه تر۱۳۶۰ هـ ش پورې

۴- وکیل وزیر د۱۳۱۱ هـ ش څخه تر۱۳۷۷ هـ ش پورې

۵- الحاج سرمعلم محمد نبي خان تراوسه ژوندی دی

۶- الحاج عبدالله اکا تراوسه ژوندی دی

۷- الحاج ملا خدایداد اخند (حاجي بابا) د ۱۲۸۰ هـ ش څخه تر ۱۳۵۹ هـ ش پورې

دمارجې ولسوالي د(۱۰)کیلومتره په شااوخواکي اوږدوالی لري اود(۸)کیلومتره په شااوخواکی سور لري دمارجې په منځ کی یو عمومي سړک اوږد غزیدلی دی چې یوې خواته ئې عمومي زابر اوبلې خواته ئې عمومي ویاله بهیږي مارجه پر څنیځه اولویدیځه خواویشي.

دهروڅلورېلاکونو دتقاطع نقطې ته څلور لاري (چهارراهی) وائې خوځیني سیمي یې په بلاکونوهم نومول سوي دي چې مشهور ئې مخکي یادسول.

دمارجې خلک ټوله ځائې اوکه ناقلین دي داسلام دمقدس دین پیروان اوپښتانه دي.

موسې کلا ولسوالي

موسې کلاه دیوې زړې تاریخي کلاه نوم دی چې اوس دغه نوم سیمي ور څخه خپل کړیدی د موسې جان او ولي جان نقل په ګرنیزو یا شفاهي ادبیاتو کي پوره ځای او شهرت لري اودا نوم د هغه مشهوري کیسې څخه نوموړي سیمي خپل کړیدی ځکه هغه کلاه چې د موسې په نامه یاده ده په دغه سیمه کي ده. دویاړ ځای دی چې زموږ شفاهي پخواني ادب تر اوسه زموږ په جغرافیه او تاریخي فنونو کي خپل اثر لاهم جوت ساتلی دی

باندني څلور خواوي یې

شمال پلوته: باغران ولسوالي

سهیل پلوته: ګرشک اوسنګین ولسوالي

ختیځ پلوته: کجکي ولسوالي

لویدیځ پلوته: نوزاد ولسوالي

سیمه ایزي څلور خواوي یې

شمال پلوته:د سربیښه او غرغري سیمه
سهیل پلوته:د دوآب او لنډۍ ناوي کلي
ختیځ پلوته: بهادر کاریز، ګرجت او ندامت کاریزونه
لویدیځ پلوته:ده زور ، چرمستان، عطاء کاریز او سلطان رباط

مشهور کلي یې

۱:سربیښه ۲:کڅ کلي ۳: چوغ راغ کلی ۴:توغي کلی۵:کنجک کلی۶:هوسکه کلی۷:قرطاله کلی۸:دوآب کلی۹:یتیم چي کلی۱۰:شابان کلی۱۱:پیر کاریز ۱۲:بنارګه کلی ۱۳:ده مستان

مشهور شخصيتونه يي

	نومونه	وظيفي	دژوند دوران
۱	الحاج مولوي عبدالقيوم هوسکوي	دلښکر امير	د۱۳۰۹هـ ش ۱۳۷۷-هـ ش پوري
۲	غازي بوبکر خان	دلښکر امير	۱۲۵۰ هـ ق په شاوخوا کي
۳	صاحب خان کاکا	قومي مشر	د۱۳۰۰ هـ ق په شاوخوا کي
۴	موسي او ولي جان	پهلوانان	دزيږاو ليږد نيټه نه ده معلومه
۵	اخندصاحب(ددهزور)	روحاني شخصيت	دزيږداو ليږد نيټه يې نه ده معلومه
۶	ملانيک نام نيکه	روحاني شخصيت	د۱۲۴۳هـ ق په شاوخوا کي
۷	ملاکرم نيکه	روحاني شخصيت	د۱۲۲۲هـ ق په شاوخوا کي
۸	خواجه لعل بابادچوغ راغ	روحاني شخصيت	د۹۸۷هـ ق په شاوخوا کي
۹	الحاج مولوي محمد صادق	نامتوعالم	د۱۳۵۰ هـ ق په شاوخواکي
۱۱۱۰	الحاج محمد امين جان اخندزاده	نامتوعالم	د۱۳۰۴-۱۳۷۷هـ ق په شااوخواکي
	الحاج مولوي عبدالعزيز	نامتوعالم	د۱۳۱۵-۱۳۷۲هـ ق په شااوخواکي

۱۲	الحاج مدير محمد جمعه خان	حكومتي مامور	د۱۳۱۹-۱۳۸۴هـ ق په شااوخواكي
۱۳	سلطان عزيزخان	قومي مشر	د۱۳۱۷-۱۳۶۷هـ ق په شااوخواكي
۱۴	الحاج عبدالظاهر (اريان)	حكومتي مامور	د۱۳۲۰-۱۳۸۹هـ ق په شااوخواكي
۱۵	الحاج غلام محمد خان	قومي نامتو مشر	اوس ژوندی دي
۱۶	الحاج صابرخان	قومي مشر	اوس ژوندی دی
۱۷	الحاج خدايرحيم خان	حكومتي ماموراو دلښكر امير	اوس ژوندی دی
۱۸	الحاج ملاعبدالصمدآخند	دلښكر امير	اوس ژوندی دی
۱۹	محمدنعيم خان	دولسي جرګې كانديد او قومي مشر	اوس ژوندی دی
۲۰	الحاج عزيزالله	قومي مشر	اوس ژوندی دی
۲۱	الحاج سيد علي خان	قومي مشر	اوس ژوندی دی

دموسي کلاه مشهوري هديري

۱-دتخته پل هديره۲-دکاني مانده هديره ۳-ريګي هديرهد۴-دښارګي هديره۵-دغونډۍ هديره۶-دشابان داغاخيلو هديره.

سيند او ماندونه يي

دموسي کلاه سيند يا خوا اسپه سيند مشهور سيند دی چې دموسي کلاه په منځ کي تيريږي اوموسي کلا ولسوالي يې پرختيځه او لويديځه برخو ويشلې، ډيرشهرت په سبب يې پاته پيژندلو ته اړتيا نسته،بطليموس جغرافيه ليکونکي وايي: دخواسپه سيند دځان سره ترشاکلاسيک شاليد لري.

۲:دکاني مانده شيله:دا ډيره مشهوره او لويه شيله ده چې تر ډيره ځايه دختيځ څخه دلويديځ پر لور تللې ده.

۳:دلنډۍ ناوې شيله:داشيله هم زياته ډبرينه اودوطن په منځ کي ده او هرشوک يې پيژني.

مشهور غرونه يي

۱:دموسی کلاه غر:داغر دموسی کلاه دوطن ختيځ لوري ته ځانګړی پريوه بيابان ولاړ دی.

۲:دچوغ راغ غر:

۳:دهوسکي غر:

۴:دده زور غر:هغه غر دی چې د(زور)په نوم بت وربانديي ولاړ وو،اوعبدالرحمٰن بن سمره(رض)عربي اسلامي سپه سالار لخواء دزوردښتيانو څخه فتحه اوبت يي توته سو.دا غرهم دموسی کلاه په سيمه پوري اړه لري اودايوه اوږده تاريخي موضوع ده اودلته نورورباندي نه ږغيږو.

دموسی کلاه خلک ټوله مسلمانان اودپښتون قبيلي پورې اړه لري.

ددیشوولسوالي

ددیشوولسوالي دافغانستان دډیره ستراتیژکو سیمو اوزیانو وړتیاوولرونکي ولسوالي دهریگستان،غرونه او کرهنیزه حاصیلخیزه ځمکي لري

ددیشوتوری(دیسو)دی چي په سانسکریټ کي ورته(سیمه)ویل کیدل اواوس دیسو په ډیر استعمال په دیشو اوښتی دی

ځلور خواوي یې

شمال پلوته خانشین ولسوالي ریگستان

سهیل پلوته بلوچستان ریگستان

ختیځ پلوته خانشین ریگستان

لویدیځ پلوته دخانشین سیمه،دنیمروز ولایت دچهار برجک ولسوالي

سیمه ایزي ځلور خواوي یې

شمال پلوته دمارگودنښت

سهیل پلوته ریگستان

ختیځ پلوته ریگستان

لویدیځ پلوته رود باره ځمکه ،چهار برجک ولسوالي او خانشین سیمه

مشهور کلي یې

۱ـبهرام چاه(پلازمینه

۲:لوړاوکښته خواجه علي

۳:پلا لکه کلی

۴:لنډي کلی

۵:ریگان کلی

۶:وادي کلی

۷:رباط کلی

مشهوري څيري يې

	نومونه	وظيفي	دژوند دوران
۱	محمد امين		د۱۲۸۷ هـ ش په شاوخوا کي
۲	حبيب الله		۱۲۹۰ هـ ش په شاوخوا کي
۳	سردار محبت خان		د۱۳۰۰ هـ ش په شاوخوا کي
۴	سردار تاج محمد خان		د۱۲۹۵ هـ ش په شاوخوا کي
۵	سردار حاجي شير محمد خان	د۱۲۸۰ هـ ش په شاوخوا کي يې ژوند کاوه ديک مچه،دالبندين اوچاغي سيمي يې دانګريزانو څخه ونيولي وروسته دامير عبدالرحمن دواکمني لخوا،دنيمروز،ديشو اوچاغي سيمو واکمن سو اوپه خواجه علي کي مړاودفن سو	
۶	مولوي محمد اسلم	جيد عالم	د۱۳۰۰هـ ش په شاوخوا کي
۷	مولانا ايجاز ګل	جيد عالم	د۱۳۰۰هـ ش په شاوخوا کي
۸	سيد لاجورد آغا	روحاني شخصيت	د۱۳۵۰ه ش په شاوخوا کي

مشهور زیارتونه یې

۱:دملا عبدالحکیم صاحب زیارت
۲:دحبیب صاحب زیارت
۳:دشیخ بابا صاحب زیارت
۴:دغیبانه بابا زیارت(بل غیبانه بابا دسنګین ولسوالۍ دساروان کلاه په سیمه کې هم سته)
۵:دشاه مردان زیارت
۶:پیر سبز بابا(بل پیر سبز دلښکرګاه نښارشمال ته هم سته)

مهمې کلاوې یې

۱:دبې بې جانې کلاه
۲:مرته زال کلاه
۳:کیابانکې کلاه

نوټ(ددیشوولسوالۍ ټوله خلګ مسلمانان اوپه ټبر پښتانه او هم بلوڅان دي)

دباغران ولسوالي

دباغران ولسوالي یوه دغرنیو ولسوالیو څخه ده چې دمیرنیو ډیري تاریخي کیسې اوپیښې ئې دتاریخ په کتابونوکې لیکلې دي. دباغ ارم اوپشلنک سیمې یومهال دسیستان مشهور ښارونه وه خواوس دحکومتي جغرافیائي ویش له مخې دباغران ولسوالۍ پورې ترلې سیمې دي. اوس(باغ رام)باغران اوپشلنک په باشلنک بولي، باغران ولسوالي دپاچاهیودوبنۍ پلازمینه وه.

تايمني شاعر چې د سلطان غياث الدين(غوري)هم مهاله وو دباغ ارم سيمه د جنت سره تشبيه کوي اوپه يوه بيت کي وائي.

ما دداور پر څمکه وليد ارم دا دجنت په څير وبن نه خرم

تاريخ ليکونکي منهاج السراج جوزجاني ليکلي دي چې سلطان غياث الدين غوري دخپلې نوي ځوانۍ پرمهال په دغه سيمه کي يوباغ جوړ کړ چې دباغ ارم په نوم ئې ونوماوه، اوس سيمې ورځخه دغه نوم خپل کړی دی. اوس ئې خلګ باغران بولي.

دتاريخ ليکونکي په قول دپشلنک په سيمه کي دتل (اتلي)ښار لويديځ ته يو منزل ليري دبغنين (بغني)سيمه ده چې اوس په باغران پورې تړلې سيمه ده.

باندنۍ څلور خواوي ئې

شمال پلوته- داروزګان اودايکندي ولايتونه

سهيل پلوته- دکجکي اوموسى کلا ولسوالياني

ختيځ پلوته- داروزګان ولايت

لويديځ پلوته- دغور ولايت اودنوزاد ولسوالي

سيمه ايزي څلور خواوي ئې

شمال پلوته- دنوامیش ،ګړي، خربير اوخرساب کلي

سهيل پلوته- ګزګه، شن دره، سفيد خوله اوجرشريک کلي

ختيځ پلوته- دلر، اوني اوسين بين کلي

لويديځ پلوته- لوی اوکوچنی خود ،زابرکلی، اختک، ګزک، اوشيله کلي

مشهور کلي ئې

۱- بغني سيمه

۲- ګردی باغران

۳- شلمین کلی۴- دره(دباغران پلازمینه)۵- رشتی کلی ۶- لجی کلی ۷- قرباغ (قرباق) کلی۸- انگرچاغ(انگرچاق)کلی۹- مایگان کلی۱۰- سوخته کلی۱۱- اجمان کلی ۱۲- پای سنک کلی ۱۳- زرغین کلی ۱۴- نوامیش کلی ۱۵- گري کلی

مشهوری څیری ئی

۱- عبدالله خان	قومي مشر	د۱۲۱۲ هـ ش څخه تر ۱۳۰۹ هـ ش پوري
۲- فقیرالله دادخان	قومي مشر	د۱۲۰۹ هـ ش څخه تر ۱۳۰۰ هـ ش پوري
۳- حاجي حبیب خان	قومي مشر	د۱۲۰۲ هـ ش څخه تر ۱۳۰۳ هـ ش پوري
۴- سلطان محمد خان	قومي مشر	د۱۲۰۹ هـ ش څخه تر ۱۳۰۳ هـ ش پوري
۵- حاجي نصرالله خان	قومي مشر	د۱۲۰۰ هـ ش څخه تر ۱۳۰۰ هـ ش پوري
۶- حاجي لالاخان	قومي مشر	د۱۳۱۲ هـ ش څخه تر ۱۳۶۶ هـ ش پوري
۷- نظرعلي خان	قومي مشر	د۱۳۱۴ هـ ش څخه تر ۱۳۸۳ هـ ش پوري
۸- وکیل جمال خان	قومي مشر	د۱۳۰۷ هـ ش څخه تر ۱۳۷۴ هـ ش پوري
۹- اغا جان	قومي مشر	د۱۳۲۰ هـ ش څخه تر ۱۳۵۸ هـ ش پوري

۱۰- ملالایق قومي مشر د۱۳۱۹ هـ ش څخه تر ۱۳۲۲ هـ ش پوري

۱۱- حاجي سید گل جان اغا روحاني شخصیت د۱۳۳۰ هـ ش څخه تر ۱۳۸۲ هـ ش پوري

۱۲- حاجي سلام جان اغا روحاني شخصیت د۱۲۹۵ هـ ش څخه تر ۱۳۸۲ هـ ش پوري

۱۳- ملاعبدالمجید نیکه روحاني شخصیت د۱۲۹۲ هـ ش څخه تر ۱۳۰۱ هـ ش پوري

۱۴- ملانعمت نیکه روحاني شخصیت د۹۸۰ هـ ق په شااوخواکي

۱۵- شاه بردي نیکه (شهاب الدین) روحاني شخصیت ۲۰۰ هـ ق په شااوخواکي

۱۶- حاجي جمعه جان اغا روحاني شخصیت د۱۲۲۲ هـ ق څخه تر ۱۳۲۰ هـ ق پوري

۱۷- سید نظام جان اغا روحاني شخصیت د۱۱۰۰ هـ ش په شااوخواکي

۱۸- صوفي نیکه روحاني شخصیت د۱۱۰۰ هـ ش په شااوخواکي

۱۹- شیر محمد نیکه روحاني شخصیت د۱۳۰۰ هـ ش څخه تر ۱۳۸۲ هـ ش پوري

۲۰- حاجي محمد انورجان اغا روحاني شخصیت اوس ژوندی دی

۲۱- مولوي عبدالجبار قومي مشر اوس ژوندی دی

۲۲- خیالوراغا روحاني شخصیت اوس ژوندی دی

۲۳- عصمت الله خان دلبنکر امیر اوس ژوندی دی

۲۴- الحاج ملاعبدالواحد (حقاني) دلبنکر امیر (رئیس باغران) اوس ژوندی دی

۲۵-الحاج ملاعبدالکبیر دلبنکر امیر اوس ژوندی دی
۲۶-حاجي ملايعقوب قومي مشر اوس ژوندی دی
۲۷-حاجي زقوم خان دلبنکر امیر اوس ژوندی دی
۲۸-حاجي عبدالغفور(توخی) دحکومت مامور اوس ژوندی دی
۲۹-حاجي ملاباریداد جید عالم اوس ژوندی دی
۳۰-مولوي محمد اسماعیل جید عالم اوس ژوندی دی
۳۱-مولوي عبدالواسع جید عالم اوس ژوندی دی
۳۲-سیداختر جان اغا روحاني شخصیت اوس ژوندی دی
۳۳-حمیداله جان اغا روحاني شخصیت اوس ژوندی دی
۳۴-نوراحمد جان اغا روحاني شخصیت اوس ژوندی دی
۳۵-حاجي پیر کسری اغا روحاني شخصیت اوس ژوندی دی

مشهوري هدیرې ئې

۱- درشتي هدیره۲- دگلدان کلي هدیره۳- دگري هدیره۴- د نوامیش هدیره۵- دگردي باغران دسیدانو هدیره ۶- دخودکلي هدیره (دمیان کلا هدیره)۷- دپای سنک کلي دخواجه کوړي بابا هدیره ۸- دزرغین کلي هدیره(دسیدانوهدیره)۹-دهزار خاک هدیره ۱۰- دسقاودخلیفه شیر محمد نیکه هدیره

مشهور زیارتونه

۱-دسید نظام جان اغا زیارت دگردي باغران په کلي کي دفن دی ،سید نظام اغا دیره پخوانی سابقه لري داچي نومورې دهرات ووځکه په تخلص ئې هروي بولي.
۲- دسید ابراهیم شاه اغا زیارت: دسربغني په کلي کي دفن دی.
۳-دسید شاه قمبرزیارت:دهمدغه شاه قمبر په نوم کلي کي دفن دی.

۴- دخواجه مثال بابا زیارت دمرکز په کلي کي دفن دی.
۵- دخلیفه ملا دوست محمد زیارت دسلطان شاه حیدر په کلي کي دفن دی.

مشهوري درې ئې

۱- دبغني دره ۲- دغرغان دره ۳- دسقاو دره ۴- دبلو دره.

مشهور غرونه ئې

دشنه بند غر ، دلوی دري غر ، دغرغان غر

مشهوری چینې يې

ددیواني چینه ، دسقاو دري سر چینه ، ددلخوشک چینه
دباغران خلک ټوله داسلام ددین پیروان اوپه قبیله پښتانه دي،علي زی،اوهلکوزی يې اکثره هستوګن دي.

دنوزاد ولسوالي

دنوزاد ولسوالي دغرونو،پراخه دښتونو،کلي اوبازارونو لرونکي ولسوالي ده نبه آب اوهوا لري چې دميووپر خونداورنګ يې دهواتاثير بيخي جوت دي.

باندینی ځلور خواوي يې

شمال پلوته: دغور ولایت
سهیل پلوته: دګرشک ولسوالي
ختیځ پلوته: دموسی کلاه اوباغران ولسوالي
لویدیځ پلوته: دواشیر ولسوالي
سیمه ایزي ځلور خواوي

شمال پلوته: دګرز اوتزني ، کلنک اوخاوي کلي
سهیل پلوته: انارک او مراد علي، سعادت کلاه،محمد اباد او کاریز سفید کلي.

ختیځ پلوته: چرمستان، سرهنګ، انځر شالي کلي
لویدیځ پلوته: دوربینی، تخمک، عرګني اوجراپیا کلي

مشهور کلي

۱: قناعت رسول خان کلی ۲: شیخ زي کلی ۳: ده بلوخ کلی ۴: لوی نوزاد کلی
۵: کنجاک کلی ۶: دوسنګ کلی ۷: لوړه ناوه ۸: خاوي سیمه ۹: شیرین باز
کلی ۱۰: روښن اباد کلی ۱۱: قاسم اباد کلی ۱۲: تراب کلی ۱۳: علي اباد کلی
۱۴: ده میان کلی ۱۵: دره میان کلی ۱۶: میان جوی کلی ۱۸: چرمستان کلی

مشهوري تاريخي ځيري

	نومونه	وظيفي	دژوند دوران
۱	زرغون خان نورزي	دساقي نامي اول غزلبول شاعر	د۹۵۰هـ ق په شاوخوا کي
۲	شيخ اسعد سوري	دره ميان په هديره کي	۵۰۰ هـ ق په شاوخوا کي
۳	سردار مدد خان		د۹۰۰ هـ ق په شاوخوا کي
۴	فرهاد اوشيرينو	دفرهاد دسيند پر غاړه دتزني کلي سره پريوه غونډۍ دفن دی نامعلوم	
۵	حاجي خان محمد خان	قومي مشر	د۱۳۰۰هـ ش په شاوخوا کي
۶	وکيل اغا محمد خان	قومي مشر	د۱۲۸۰هـ ش په شاوخوا کي
۷	حاجي دستگير خان	قومي مشر	د۱۳۰۰هـ ش په شاوخوا کي
۸	سردارمحمد عثمان خان	دلښکر امير	د۱۳۸۲هـ ق په شاوخوا کي
۹	سردارعبدالرحيم خان	قومي مشر	د۱۳۵۸هـ ق په شاوخوا
۱۰	محمد امين خان	قومي مشر	د۱۳۰۰هـ ش په شاوخوا کي

۱۱	حاجي ملا امين الله خاوي	دلبنکر امير	د۱۳۲۰ هـ ش په شاوخوا کي
۱۲	حاجي دلدار خان	حکومتي ماموراو قومي مشر	د۱۳۲۰ هـ ش په شاوخوا کي
۱۳	حاجي عبدالعلي	قومي مشر	د۱۳۲۰ هـ ش په شاوخوا کي
۱۴	حاجي امان الله خان	قومي مشر	د۱۳۵۰ هـ ش په شاوخوا کي
۱۵	خير محمد خان	قومي مشر	د۱۳۵۰ هـ ش په شاوخوا کي

یادونه: دنوزاد خلګ ټول د اسلام دمقدس دین پیروان دي بیله خاوي څخه نور ټوله پښتانه قومونه دي یوازي دخاوي نیم خلګ ملکیان توکمه دي

دګرم سیر ولسوالي

ګرم سیر ولسوالي یوه دهغه ولسوالیوڅخه ده چي لرغونیتوب یې دنوم څخه معلومیږي،هرکلی یې یوتاریخي اوجګړه ایزشالیدلري ،اونژدې هرکلی یې دتاریخ پرپانو لیکلی دی.

باندنۍ څلور خواوي یې

شمال پلوته:- دناوې اومارجې ولسوالي

سهیل پلوته:- دخانشین ولسوالي

ختیځ پلوته:- ریګستان

لویدیځ پلوته:- دمارګو دښت

سیمه ایزي څلور خواوي یې

شمال پلوته:- دخاري،دیوالا،خارکو،لوی اوکوچني درویشان،کوشتي اومیان پشته کلي.

سهیل پلوته:-دلکړی،لکي،صفار،درزی اوبینادرکلي.

ختیځ پلوته:-ریګستان

لویدیځ پلوته:-دنیمروزاوبکوادښتونه.

مهم اومشهور کلي یې

خاري کلی ، دیوالا کلی ،کتوری کلی ،صفار کلی ،لکړی کلی ،میان پشته کلی ،بنادر کلی ،دصفار سیمه

داسیمه کش صفارنومیدله،اوس یوازي دصفارنوم ورته پاته دی.

دسیستان تاریخ په قول :صفار دهلمند په سهیل کي دګرم سیرپه مربوطاتوکي د(لکي)او(بنادر) کلیو ترمنځ یوه سیمه سته چې دصفار په نوم یادیږي.پخوانی خرابې یې په اطرافو کي اوس هم معلومیږي.

په پخواکي میان پشته،بګت،لکی،بنادر،تاغز،دیشو،خواجه علي علیا(لوړخواجه علي)،خواجه علي سفلي (کښته خواجه علي)کلي دګرم سیر دمربوطاتوڅخه وه،خواوس دغه سیمي اویادسوي کلي ځیني دګرم سیر اونورېې په نوروولسوالیو پوري ترلي دي.

صفاردیوې مشهوري او واکمني کورنۍ نوم دی چې یعقوب بن لیث صفاري یې دسر سړی وو،په صفار کي دقرنین په نامه کلي کي لیث زیږیدلی او اوسیدلی دی اودلته یې دمس ګرۍ کسب کاوه.هرچاچې به دمس ګرۍ کسب کاوه ورته صفار ویل کیدل اولیث ته صفار وویل سوه وروسته دغه سیمي دغه نوم ورڅخه خپل کړی دی.

دلکي سیمه

داهغه سیمه ده چې پکښې دشاحسین دیوه ملګري ابراهیم یلغار لخواپه ۱۱۴۲ هجري قمري کي نادري فارسي سیمه ایز واکمن شاه اشرف ووژل سو.

مشهوري ځیرې

۱:- یعقوب لیث صفاري د۲۴۷(هـ ق) څخه تر ۲۶۵(هـ ق) پوري.

۲:- عمرو دلیث زوی د۲۶۵ څخه تر ۲۸۷(هـ ق) پوري.

۳:- طاهر دمحمد زوی دعمرولیث لمسی او وروریې یعقوب د ۲۸۹ څخه تر۲۹۶(هـ ق) پوري.

۴:- لیث دعلي زوی وو،دلومړي لیث لمسی ووپه(شیرلباره) مشهورو د۲۹۸څخه تر۲۹۹(هـ ق) پوري.

۵:- ابو علی (معدل)دعلي زوی دلومړي لیث لمسی د۲۹۹هجري قمري په شاوخواکي.
۶:- ابوخصص عمرو دیعقوب زوي دمحمد لمسی اودعمرولیث کړوسی د۳۰۰(هـق) په شاوخواکي.
۷:- امیرابوجعفراحمد دمحمدزوی دخلف لمسی اودلیث کړوسی د۳۱۱ څخه تر۳۵۲ (هـق) پوري.
۸:- ابواحمد خلف بن احمد د۳۴۴(هـق) په شاوخواکي.
۹:- ابن بانو د۳۹۹(هـق) په شاوخواکي.
۱۰:- امیرطاهربوعلی دمحمدزوی دطاهرلمسی دصفاریانودخورزوی د۳۵۲ څخه تر۳۵۹(هـق) پوری.
۱۱:- امیرحسین دطاهرزوی د۳۵۲ څخه تر ۳۷۳(هـق) پوري.
۱۲:- بهاوالدین طاهردنصرزوی داحمدلمسی د۴۸۰(هـق) په شاوخواکي.
۱۳:-تاج الدین نصردطاهرزوی دمحمدلمسی د۴۸۲(هـق)په شاوخواکي.
۱۴:-شمس الدین ابوالفتح احمددنصرزوی د۵۵۹(هـق)په شاوخواکي.
۱۵:- عزالملوک محمددنصرزوی د۵۲۴(هـق)په شاوخواکي.
۱۶:- تاج الدین حرب دمحمدزوی د۵۲۲(هـق) په شاوخواکي.
۱۷:- شمس الدین یمین الدولة بهرام شاه دعثمان زوی د۶۱۲(هـ ق) په شاوخواکي.
۱۸:- تاج الدین ابومنصوردبهرام شاه زوی د۶۱۸(هـق)په شاوخواکي.
۱۹:- شهاب الدین محمود دعثمان زوی د۶۱۹(هـق)په شاوخواکي.
۲۰:- علي دعثمان زوی د۶۱۹(هـق) په شاوخواکي.
۲۱:- شمس الدین علي دمسعودزوی دخلف لمسی د مهربان کړوسی دطاهر کوسی د۶۲۲(هـق) په شاوخواکي.

۲۲:- نصرالدین دابوالفتح زوی دمسعود لمسی د۲۵۲(هـ ق) په شاوخواکی.
۲۳:- شاه نصرت دنصرالدین زوی د ۷۲۸(هـ ق)په شاوخواکي.
۲۴:- قطب الدین محمددرکن الدین محمودزوی د ۷۳۱(هـ ق) په شاوخواکي.
۲۵:- تاج الدین دمحمدزوی د ۷۴۷(هـ ق) په شاوخواکي.
۲۶:- سلطان محمود دشاه علي زوی د۷۵۱(هـ ق) په شاوخواکي.
۲۷:- عزیزالدین درکن الدین محمودزوی د۷۳۳(هـ ق) په شاوخواکي.
۲۸:- قطب الدین دعزت الدین زوی د۷۸۴(هـ ق) په شاوخواکي.
۲۹:- شاه شاهان تاج الدین دقطب الدین زوی د۷۸۸(هـ ق) په شاوخواکي.
۳۰:- شاه شاهان شمس الدین دقطب الدین زوی د۸۲۲(هـ ق) په شاوخواکي.
۳۱:- نظام الدین یحیی دشمس الدین زوی د۸۴۲(هـ ق) په شاوخواکي.
۳۲:- شمس الدین محمد دیحیی زوی د ۸۸۵(هـ ق) په شاوخواکي.
۳۳:- سلطان محمود دزیږید ونیټه یې نده معلومه.
۳۴:- امیرمحمد مبارزالدین د۸۴۵(هـ ق)په شاوخواکي.
۳۵:- قطب الدین علي د۸۲۲(هـ ق) په شاوخواکي.
۳۶:- شاه حسین دملک غیاث الدین زوی د(احیاءالملوک)مؤلف د۱۰۲۷(هـ ق) په شاوخواکي.
۳۷:- حاجي انور خان قومي مشر د۱۳۰۹(هـ ل)څخه تر ۱۳۵۲ پوري.
۳۸:- حاجي سید عمر خان قومي مشر د۱۲۹۵(هـ ل)څخه تر۱۳۵۹(هـ ق) پوري.
۳۹:- حاجي عبدالعلي خان قومي مشر د۱۲۹۸(هـ ل)څخه تر۱۳۶۲(هـ ل). پوري.

۴۰:- شهيد تورن محمدولي خان حكومتي پخوانی افسرد ۱۳۰۰(هـ ل)څخه تر ۱۳۶۴(هـ ل) پوري.
۴۱:- حاجي علي مردان خان قومي مشر د ۱۲۹۰(هـ ل)څخه بياتراوسه ژوندی دی.
۴۲:- حاجي دوست محمد خان قومي مشر د ۱۳۰۸ څخه تر ۱۳۶۸(هـ ل) پوري.
۴۳:- حاجي محمد هاشم خان قومی مشر د ۱۳۱۱څخه تر ۱۳۶۱(هـ ل)پوري.
۴۴:- حاجي عبدالصمد خان قومي مشر د ۱۳۰۰څخه تر ۱۳۵۲(هـ ل)پوري.
۴۵:- الحاج امير شاه جهان خان اميراوقومي مشر اوس ژوندی دی.

مهمي كلاوي

۱:- دنبي صاحب كلا. ۲:- دګيمک كلا. ۳:- دګورګک كلا. ۴:- دصفار كلا. ۵:- ددرزي كلا.

مهمي ويالې

۱:- لويه بغراء ۲:- دلكي ويالې ۳:- دصفارويالې ۴:- دبنادر ويالې

مهمي هديرې

۱:- دكلاه ميرزو هديره(هزارجفت). ۲:- دامير بلند صاحب(درويشان)هديره.
۳:- دمرماش باباهديره(درويشان). ۴:- دګلين اغا هديره(درويشان). ۵:- دخواجه غيب بابا هديره(ميان پشته). ۶:- دسخي بابا هديره(لكړی كلی).
۷:- دصحابي(صابي) هديره(لكي كلی). ۸:- دصالح بابا هديره (لكي كلی). ۹:- دسخی جان هديره(صفاركلی). ۱۰:- دشيخ حسن بابا هديره(صفار كلی). ۱۱:- كلكه هديره(بنادر كلی). ۱۲:- دادم جان اغاهديره(بكت).
دګرم سيرخلګ تولـه داسلام دمقدس دين پيروان دي ډيريي پښتانه اولږ يې بلوڅان دي.

مشهور بنارګوټي او بنارونه

۱:- دهزارجفت بازار.۲:- دلکړی بازار.۳:- دصفاربازار.۴:- دبنادر بازار.

دخانشين ولسوالي

دخانشين ولسوالي هم دريګونو،غرونو،دښتونو، تاريخي ګنو کلاوو،پراخوسيمو اوطبيعي زيرمولرونکې ده.

باندنۍ څلور خواوي

شمال پلوته:- دګرمسير ولسوالي

سهيل پلوته:- دبلوچستان سيمه

ختيځ پلوته:- ريګستان

لويديځ پلوته:- ددېشو ولسوالي

سيمه ايزي څلور خواوي يې

شمال پلوته:- دګرمسير دښت اوکنک لبوزکلی

سهيل پلوته:- ريګستان

ختيځ پلوته:- ددیوالګ سيمي کرهنيزي ځمکي، پای چناب کلی ،اوعلی مردان خان کلی

لويديځ پلوته:- کلاه سبزک کلی اوکلاه مرتضی کلی

مشهور کلي يې

۱- دشوبياري کلی۲- قلعه نوسيمه۳- حاجي نظيف الله جان اغا کلی۴- حاجي زمان خان کلی۵- ملک شاه غاثي کلی۶- کلاه کالوکلی۷- دحاجي نصر الله خان کلی۸- دحاجي فتح الله خان کلی۹- دسيدحاجي ملک اغا کلی۱۰- دحاجي علي مردان خان کلی۱۱- دحاجي بې برګ خان کلی۱۲- دحاجي رشيد خان کلی۱۳- دلوی محمد عمر خان کلی۱۴- دحاجي نيک محمد خان کلی۱۵- دمحمد عمر خان کلی۱۶- دحاجي وزير خان کلی۱۷-

دحاجي بوبکر خان کلی۱۸- دمیتي دبلوځانو کلی۱۹- دکلاه سنک کلی۲۰- دوکیل امان الله خان کلی۲۱- دمحمد عالم خان کلی۲۲- حاجي سلطان خان کلی(دمندنیزیو کلی)۲۳- دناقلو کلی۲۴- دجوکي کلی۲۵- دکوتل کلی ۲۶- دسیدانو کلی

مشهور شخصیتونه یې

۱- الحاج حبیب الله خان قومي سپین ږیری د۱۲۴۲ هـ ش څخه تر ۱۳۴۸ هـ ش پوري

۲- محمد عمر خان قومي سپین ږیری د۱۳۰۰ هـ ش څخه تر ۱۳۶۰ هـ ش پوري

۳- حاجي جان محمد خان قومي سپین ږیری د۱۳۰۰ هـ ش څخه تر ۱۳۵۴ هـ ش پوري

۴- خدای نظر خان قومي سپین ږیری د۱۳۰۰ هـ ش څخه تر ۱۳۵۲ هـ ش پوري

۵- کاکا یارمحمد خان قومي سپین ږیری د۱۳۰۰ هـ ش څخه تر ۱۳۵۸ هـ ش پوري

۶- سردار جمعه خان قومي مشر د۱۲۹۰ هـ ش څخه تر ۱۳۶۲ هـ ش پوري

۷- لوی محمد عمر خان قومي مشر د۱۳۱۰ هـ ش څخه تر ۱۳۶۵ هـ ش پوري

۸- کوچنی محمد عمر خان قومي مشر د۱۳۱۰ هـ ش څخه تر ۱۳۷۲ هـ ش پوري

۹- سید غوث عبدالحکیم روحاني شخصیت د۱۲۰۰ هـ ق په شااوخواکي

۱۰- حاجي نظیف الله جان اغا روحاني شخصیت د۱۲۱۰ هـ ق په

شااوخواکي

۱۱- ماران اغا روحاني شخصيت د۱۲۲۵هـ ق په شااوخواکي

۱۲- سيد آدم جان اغا روحاني شخصيت د۱۲۳۰هـ ق په شااوخواکي

۱۳- سيد شيخ بابا روحاني شخصيت د۱۲۴۰هـ ق په شااوخواکي

۱۴- ملاخانک نيکه روحاني شخصيت د۱۲۳۹هـ ق په شااوخواکي

۱۵- سيد صالح جان اغا روحاني شخصيت د۱۲۲۰هـ ق په شااوخواکي

۱۶- خواجه ورغښت بابا روحاني شخصيت د۱۲۴۲هـ ق په شااوخواکي

۱۷- سيد عبدالله جان اغا روحاني شخصيت ژوندی دی

مشهوري کلاوي يې

دخانشين کلاه:- دځائي خلکو دشفاهي تاريخ په استناد: حاجي شير محمد جان چې دخانشين اوسيدونکی اوولسوالی لخوا په ولايتي شورا کي غړی دی وائي: دغه کلاه زما دپلار په قول دنادر افشار لخوا جوړه سوه ځلور جريبه ځمکه ئې نيولې ده اودخانشين خلکوساتلې ده شمال اوسهيل ته دوې دوې دروازې لري.

په لمريز هجری (۱۳۷۶)کال دطالبانو دواکمنۍ پر مهال ئې زيان وليدی تر دې مخ کي هم دسنگر کار ورځخه اخيستل کيدی، روسيانوهم پر افغانستان باندي دخپل يرغل پر مهال زيان وراړوه.

ختيځ اولويديځ لور ته شپږ شپږ برجونه شمال اوسهيل لوروته اوه اوه برجونه لري ديوال ئې نژدې ځلور مترې پلن والی لري.

۲- دميرجان کلاه: دولسوالۍ مرکز ځخه ۲۰۰ مترې ليرې موقعيت لري.

۳- دکالو کلاه: دولسوالۍ مرکز ته نژدې موقعيت لري.

۴- غلامان کلاه: دولسوالۍ مرکز ته نژدې ستون لري.
۵- ملک محمد خان کلاه: دقلعه نو په سیمه کې موقعیت لري.
۶- بنوره کلاه: دولسوالۍ مرکز ته نژدې موقعیت لري.
۷- زورنا کلاه: په خیراباد نومي سیمه کې ده.
۸- شنه کلاه(قلعه سبز): دتاغزپه سیمه کې موقعیت لري.
۹_سیدک کلاه:
۱۰_دبي بي جاني په نوم کلاه:
۱۱_دزربلخی کلاه:دبګت په سیمه کې ده.
دخانشین خلک ټوله داسلام دمقدس دین پیروان دي په قبیله پښتانه اوبلوڅان دي.

دواشیر ولسوالي

دواشیرسیمه دنوزاد علاقه داري وه اوټوله اړتیاوي چې دحکومت سره پینبیدلي هغه به يې دنوزادد ولسوالۍ.
څخه چې دواشیراصلي مرکزوو ،پوره کولې، دډاکټرنجیب الله دحکومت په وخت کې واشیر په رسمي ډول دولسوالۍ.
په توګه وپیژندل سو ،دواشیرنوم د کوشانیانواوساسانیانو دوخت څخه په واشیراویاواسیریادیږي
باندني څلورخواوي ئي

شمال پلوته: دفراه ولایت دګلستان ولسوالي اونوزاد ولسوالي
سهیل پلوته: دنادعلي ولسوالي
ختیځ پلوته: دګرشک او نوزاد ولسوالي
لویدیځ پلوته: دنادعلي ولسوالي

سیمه ایزي څلورخواوي يې

شمال پلوته: امیرمحبت، اشرافی، اوکاریزنوکلي
سهیل پلوته: جمال کاریز اوکندرچشمه کلي
ختیځ پلوته: کلک، گله بید، لنگک اوولکک کلي
لویدیځ پلوته: دشونکي اولرپاین کلي

مشهوره کلی ئې

۱- واشیر کلی۲- پولاد کلی۳- باره کلی ۴- کشک سفید کلی ۵- گرازدان کلی ۶- پایوک کلی

مشهور خلک ئی

۱- مستري عبدالعلي تر ۱۳۸۰ هـ ش پوري	قومي سپین ږیری	د ۱۳۲۰ هـ ش څخه
۲- مولوي ضاءالحق ۱۳۸۰ هـ ش پوري	دلښکر امیر	د ۱۳۲۰ هـ ش څخه تر
۳- حاجي محمد اقبال خخه تر ۱۳۸۰ هـ ش پوري	قومي سپین ږیری	د ۱۳۲۰ هـ ش
۴- حاجي عبدالغني دی	قومي سپین ږیری	تراوسه ژوندی

مشهوری هدیری

۱- دپولاد هدیره۲- دپایوک هدیره ۳- دواشیر هدیره

مشهورزیارتونه

دپیرواشیراغا زیارت: شونې ده چې سیمي دي نوم ورڅخه خپل کړی وي ددغه پیردزیرد اولیږدنیټه نده معلومه.

پیر پولاد: دپولاد وطن دپیروخلکوپه قول ددغه پیرنوم خپل کړی دی، ددې پیردزیرد اولیږدنیټه نده معلومه.

مشهوری کلاکانی یې

۱- دپایوک کلاه (کاروان سرای) ۲- دباری کلاه (کاروان سرای)

مشهور غرونه ئی

دشکر آب غر: دځائي خلکوپه قول دغه غر یوشمیر چینې لري چې اوبه ئې زیاتي خوږې دي اودغره مغزهم په دغه سبب شکر آب دی.

دولاخکان غر:

دواشیر خلک ټوله داسلام دمقدس دین پیروان اوپه قبیله پښتانه دي.

اختیتامیه

دکتاب اختیتامیه پردریوبرخو راخلاصه سوې ده اوهڅه به وکړم چې بیلابیل معلومات اوتعریفات په لنډ ډول ذکر کړم ترڅو ټولنه ګټه ورڅخه واخلي اوپه لوستلو یې دمعلوماتو تشه څه ناڅه ډکه سي اختیتامیه په لاندي ډول پردریوبرخو ویشو:-

۱:- فرهنګي پرمختیاوي ۲:- دودیز نومونه اودهغوی لنډ تعریفات ۳:- په ځینوځایونوکي دکتاب اودځان لخواء عذروړاندي کول. لومړی برخه

فرهنګي پرمختیاوي:-

په تاسف بایدووایم چې دتاریخ اوجغرافیي په برخه کي دهلمندمعلومات ډیرلږدي ،اوپه بیلا بیل ډول په کتابونوکي هغه هم په لنډ ډول لیکلي پاته دي ،اوهغه هم په داسي کتابونوکي دي چې پیداکیدل یې هم ګران دي، اوپبریې هم ګران قیمت لري. دبلي خوا دغه معلومات په فارسي ژبه دي اوفارسي تاریخونه زموږپه ټولنه کي اوس نه ویل کیږي ،یاخویې لوستلوته خلک لیواله نه دي اویاخویې کتنه دلوړي کچي دفارسي وړتیانه لري،په هرحال دهلمندلپاره ډیرلږکار سوی دی په تیره بیاپه اوس وخت کي. هلمندولایت دپرمختیا په درشل کي دی اودپخواني حالت څخه یې دداخلي

جوړښت حالتونه توپير لري.

نولازمه ده چې په لنډ ډول يې پرمختياوې يادي سي .چې فرهنګي اړخ دلومړيتوب حق لري . دغوريانو ددوري راپدي خوا هلمند ته بيادپام وړ فرهنګي کارونه ندي سوي اوداډيره دتاسف خبره ده.

۱:- دهجري لمريز ۱۳۸۱ کال راپدي خوا په هلمند کي په لومړي ځل دبُست فرهنګي ټولني په نوم ازادي اوفرهنګي هڅې پيل سوې ،چې بګړي مجله اويولړکتابونه يې په خاص ډول اوپسرلنۍ مشاعره (هلمند سيند مشاعره) يې په عام ډول لاسته راوړني دي ،تراوسه هم څه ناڅه کارونه کوي. مشر يې بريالی«هلمند»ځوان اوتکړه ليکوال دی.

۲:- ورپسې هلمندادبي اوکلتوري ټولنه جوړه سوه چې شامحمد درويش«خوندی»يې مشراودښاغلي علي شاه(مظلوميار) هڅي هم پکښې دستايلووړدي.

۳:- ورپسې هاشم ساروانې ټولنه ده چې سردارمحمد(همدرد)يې مشردی، يوشمير کتابونه ،شمله مجله،داکبرزميناوري په نوم دروند اوپرتمين سمينارې يې په هلمند کي لاسته راوړني دي، اوس هم فعاليت لري.

۴:- په ګرشک کي دشملې ادبي ټولنه هم پکاربوخته ده.

۵:- سراج ادبي اوفرهنګي ټولنه هم په ګرشک ولسوالۍ کي کارکوي دځراغ په نوم جريده يې محصول دی.

۶:- دنوزادبه ولسوالۍ کي دنوزاد ادبي ټولنې په نامه ټولنه جوړه سوه چې اوس هم نيمه ژوندۍ ده اوشرايطو وربانديجوت اغيز کړی ده.

۷:- په لښکرګاه کي دپيرروښان په نوم ټولنه ونومول سوه خواوس جوت فعاليت نلري.

۸:- يوشميرنورې ازادي ټولنې هم سته چې تراوسه لادکار اوفعاليت ډګرته نه دي راوتلي.

په هلمند کي چاپي رسنۍ:

۱:- بګړۍ مجله- دبُست فرهنګي ټولني لخواء۲:- شمله مجله- دهاشم سرواني ادبي ټولني لخواء۳:- صحت مجله- دبست روغتون لخواء۴:- صفار مجله- دهلمندادبي بهير لخواء ۵:- پويامجله- فارسي اوپښتو مطالب۶:- هلمند مجله- دولايت دمقام لخواء۷:- بُست جريده- داحمدشاه(پاڅون)په زيار۸:- هلمنداخبار- ددولتي مطبعې په زيار۹:- سيستان جريده- دعبدالودود (هجران) په زيار۱۰:- سجستان جريده- دعصمت الله (همدرد) په زيار۱۱:- کجکي جريده- دخليل احمد (خوشحال) په زيار.

۱۲:- هيله جريده- دډاکتر اشرف(طاؤس) او صفت الله (زاهدي) په زيار.

۱۳:- لښکرګاه جريده- چې وروسته په مجله واوښته دعبدالهادي(عمري)په زيار.

په هلمند کي بڼغيزي رسنۍ:-

۱:- هلمندراډيوتلويزيون چې دډيره پخواء څخه يې ځای په محلي راډيو شهرت لري بيلا بيلي صوتي اوتصويري خپروني لري.

۲:- سباوون او مسکا راډيو:- دميرويس«پاڅون»په زيار.

۳:- سمون راډيو:- دسليم «زمريالي» په زيار.

۴:- بُست راډيو:- دعبدالسلام«زاهد»په زيار.

داټولي هغه پرمختياوې دي چې مور يې دفرهنګي هڅو دخوښبت پايلي ګڼلای سو.

دلومړۍ برخي دوهمه برخه

دوديزاومذهبي نومونه اودهغوی لنډتعريف:-

موربه ټولنه کي ځينې مذهبي اودوديزمحافل لرو،خاصي دوديزي ورځې لرو،چې په خاصووختونوکي اوخاصومراسموترسره کيږي.په پښتني

اوافغاني سيموکي دغه ورځي اودودونه نژدې يوشان ترسره کيږي خولږتوپيرونه به ديوبل سره ولري اوداتوپيرونه دومره لږ دي چي پرنه توپيرحساب دي.ددې لپاره چي دوديزاومذهبي مراسم راتلونکی نسل وپيژني اوذترسره کيدلوپه مطلب يې وپوهيږي غوره بولم چي دوديزاومذهبي نومونه هغه چي اړين اوپه کړنوکي مشهوردي په لنډاولاندي ډول تعريف کړو.

مذهبي ورځي اومراسم

۱-کلمه طيبه:-داد(لااله الاالله محمدرسول الله)جمله ده چي ويل يې دمسلمانۍ لومړی شرط دی،څوک چي مسلمانيږي ددغه کليمې په اقرارمسلمانيږي.

۲-لمونځ:-يوډول عبادت دی چي په هره ورځ کي پنځه ځله ترسره کيږي،په څلورو ،دريواودوو ،رکعتونوسره. رکعت يوځل دقرائت لپاره ددريدلو ،رکوع اوسجدوڅخه عبارت دی.تل دهرودوو ،رکعتونوترمنځ يوه ناسته حتمي ده.داعبادت دسهارځلورررکعته چي دوه يې سنت اودوه يې فرض دي ترسره کيږي،

ماپښين لس(۱۰)رکعته لمونځ کيږي چي لومړی څلور،رکعته يې سنت،ورپسې څلور،رکعته يې فرض اوپه اخرکي په دوه رکعته سنتوپای ته رسيږي.

مازديګر:څلور،رکعته لمونځ دی ټوله يوځای اوفرض رکعتونه دي.

مابنام:پنځه رکعته لمونځ دی چي په دريو،رکعتونوفرضوپيل اوپه دوو ،رکعتونوسنتوکولوسره پای ته رسيږي.

ماخستن:نهه(۹)رکعته لمونځ دی چي په څلور،رکعتونوفرضوپيل،ورپسې دوه رکعته سنتواودريو ،رکعتونووتر،او،واجبوپای مومي.

جمعه:دالمونځ دجمعې په ورځ دماپښين دلمانځه پرځای کيږي(۱۴)رکعته دی لومړی دوه رکعته يې نفل اوبياځلوررکعته سنت اداکيږي ،وروسته دوه رکعته فرض لمونځ اداکيږي.تردې وروسته دوه رکعته سنت اووروسته ځلوررکعته نفل لمونځ کيږي.

داخترونولمونځ:دوه رکعته واجب لمونځ دی چې په لومړی رکعت کې تر(سبحانک الهم)ويلووروسته درې اضافه تکبيرونه اوپه دوهم رکعت کې ترقرائت وروسته تکبيرونه ويل کيږي.

دجنازې لمونځ:رکوع اوسجده نه لري،رکعتونه نه لري،يوازې ځلورتکبيرونه دي چې ترمنځ يې سبحانک الهم،درودواودمړي دعاويل کيږي.

زکوة:دمال اونغدوپيسوځخه دخدای دحق(۴۰)روپی ورکول دي.

روژه:دسهاردوهموسپيدوځخه ترلمرلويدلوپوري.خوړل،چښل،جماع اودهغوی سببونه نه کول دي.

حج:دخدای دبيتې طواف،پرعرفات دريدل اواحرام ترلوته وايي.

تراويح:شل(۲۰)رکعته سنت لمونځ دی چې دماخوستن دفرضواوسنتو روسته اودوترودمخه اداکيږي.

عاشورا:ددهې ياحسن اوحسين دمياشتې لسمه(۱۰)ورځ ده،چې دحسين(رض)دشهادت په يادکې خلګ دقران شريف ختمونه اونفلي لمونځونه اوياهم خيراتونه کوي.

دميلادورځ:داورځ دحضرت محمد(ص)دزيږداوليږد دورځې سره مصادفه ده خوخلګ دحضرت محمد(ص)درحلت ياد پکښې په ذکرونو،تلاوتونو،ختمونواوخيراتونوکوي.

دسروري چهارشنبې ورځ:داهغه ورځ ده دپيغمبر(ص)ناروغي پکښې لږځه

اسانه سوې ده. اوس خلګ پکښې ددغه ورځې په سهار دقران هغه اوه ایتونه چې د(سلم) توري یې په سرکي وي ولیکي په یوه کاسه اوبو کي یې کښیږدي اودخابښت په ډول یې وڅښي، په مسجد کي دحجرو دطالبانو اویاهم امام له خواورومامشومانوته ورکول کیږي اوهرکورته یې وروړي، دکورغړي چې

خابښت وڅښي بیا پیسې یاهګۍ یابل څه دغه ماشوم ته ورکوي ماشوم دغه ټول سوی شیان راوړي اودمسجدامام یاطالبانوته یې ورکوي هغه ورځخه دخوراک ګټه اخلي.

حاجي راغلی دی کله چې حاجي دحج څخه راسي نودځان سره تسبیح اوخرمااودزم زم اوبه راوړي، خلګ یواوبل خبروي وایې حاجي راغلی دی راځئ زیارت ته ورسونوټوله مبارکي ته ورځي حاجي صاحب هم دتبرک لپاره دزم زم اوبه لومړی اوبیاخرمااوتسبیح ورکوي

جنازه: هغه کټ ته وایې چې مړی ورباندي هدیرې ته وړي خواوس محفل کي ټولوګډون کوونکوته دجنازې ګډونوال وایي.

شریعت: احکام دخدای دسنتوپه چوکاټ اودمذهب په رڼاکي پرځان عملي کولوته وایې البته په ظاهري اندامونوباندي.

طریقت: دشرعي احکاموعملي کول اودباطني اندامونوعادت کول په ذکرسره دطریقت داصولوسره سم.

شراکت: ددوویاڅونفروشتمني په ګډوسره په کاراچول چې دحساب پروخت دخپلې شریکي شتمنۍ په اندازه ټوله په ګټه اوتاوان سره شریکان وي.

مضاربت: چې دشتمن سړي مال اودغریب سړي سوداګریزي هڅې وي خوګټه یې سره نیمایې وي په دې شرط چې که کله مضاربت ته دپاي ټکی ایږدي نوشتمن سړی دټوله مال حقداره سي اوغریب سړی دګټلوپیسو دنیمایې حقداره سي.

اسقاط:هغه مراسموته ویل کیږي چي مړی دکورڅخه وړي په قبرکي يې ښخ کړي،ختم ،دعا ورته په ګډه وکړي،څه اندازه نغدي پيسي اوڅه اندازه نکل اونخودورپسي دخيرات په ډول وويشي.

فاتحه:دمړی دمغفرت لپاره دعا اوتلاوت کول په مسجد کي کله ديوي ورځي اوکله درې ورځي وي.په ښارکي په عام ډول يوه ورځ اوپه صحراووکي درې ورځي وي.دمړی نژدي خپلوان په مسجد کي ناست اوخلګ ورځي تسليت ورته وايي اومړی ته دخدای(ج)له درباره څخه دمړی دګناهونوبخښنه غواړي.

ختم:دقران دتلاوت لپاره ډيرخلګ ،عالمان،حافظان راټول سي ټوله قران پريوه ځای تلاوت کړي اوپه اخرکي خاتمه دعاووايي، نوري دعاوي هم وکړي وروسته هغه چاچي دختم محفل جوړکړی وي، ډوډی يې هم تياره کړي وي اودخيرات په نوم يې خلګو ته ورکړي.

شفعه:که سرای،مځکه،دوکان يابل څه خرڅيږي نودرانيولولومړی مستحق يې همسايه دی چي دغه مبيعې ته شفعه وايي.

داسي نورشيان هم سته چي په مذهبي اړخ پوري تړاو ،ولري خومشهوريږي دغه وه چي پورته يې يادونه وسوه.

دوهمه برخه

دودیزاومشهورنومونه اولندتعریف یې:

زمونږپه ټولنه کي ځينې نومونه داسي هم دي چي زيات مشهور دي،اوعمل يې په طبيعي ډول د دود يوه برخه ګرځيدلې ده.دانومونونه خلګ پيژني،پرژبه يې کاروي اومراسم يې ترسره کوي خودغفلت په سبب يې دپيژندني څخه پاته راغلي وي ،ځکه دمراسموهرڅه دمشرانوله خوا سرته رسيږي اوځوانان يوازي دخوښيوبدرګه کوي ،نور زيات نه پوهيږي ځکه

مي دځينونومونه اوتعريفات اړين وبلل چي دلته راوړل سي لږترلږه لوستل يې بې فايدې نه دي.

۱-دجګړه ايزوخواووترمنځ سوله(جرګه):کله چي دوو ډلو يادوو نفرو ترمنځ جګړه وي نوکليوال ياسيمه وال راټول سي اودسيمي دمخورو خلګوڅخه وغواړي ترڅوروانې معضلې ته دپای ټکی کښيږدي، نومخورخلګ يعني سپين ږيري اومشران سره راټول سي اوترخپل منځ يوه خبره وکړي چي دمشرانواوسپين ږيرودغه راټوليدلوته جرګه وايي. بياجرګه ولاړه سي اوددواړوخواووڅخه ليکلی اختيارپه عام اوتام ډول واخلي.وروسته ترخپل منځ يوه فيصله وکړي اودواړه طرفونه دجګړې ورباندې قانع کړي، اووروسته يومحفل جوړکړي ،دواړي خواوي راوغواړي يوځای يې سره کښيني اودجرګې فيصله ورته واوروي جوړه يې سره وکړي.

۲-ملک:هغه شخص ته ويل کيږي چي دخلګوله خواداړتياووپرمهال حکومت ته داستاذي په توګه ورپيژندل سوی وي.

۳ميرآب(ميراو)هغه شخص دی چي دخلګودځمکوداوبودويش اودويالې سرپرستي کوي په بدله کي يې دراشويامحصولاتوپرمهال دخلګوڅخه تعين سوې اندازه دمحصول اخلي.

دبابوصاحب لمبه:-ددې خبري سرچينه نه ده معلومه خوخلګ وايي چي يونيک سړی وو.بابوصاحب ورته ويل کيدل هغه به دهراخترپه شپه يوه لويه لمبه داورکوله ډيربوټي به يې پريوه لوړه تپه کښيښودل اواوربه يې دماخوستن پرمهال بل کړ.دادود ،اوس هم په ډيروځايونوکي ژوندی پاته دی.

اخترونه:

-يوه مياشت روژه نيول کيږي اوپه اخرکي دروژې دشوال، دمياشتي په

لمړۍ ورځ ټوله خلګ دسهاردلمونځ داداکولووروسته په مسجدکي دوريجوډکي کاسې(قعصې)ياغوري ګان راوړي اوويې خوري،يودبل سره

داخترمبارکي وکړي اودروژې اوتراويحودقبول دعاوي يوبل ته کوي.وروسته مقبرې ته ځي ،دمړوزيارت کوي اودعاورته کوي،بياکلي اونوروحقداره دوستانوته داخترډمبارکۍ په نيت کورونوته ورځي.په هرکورکي دڅوان سره سم ډول ډول ميوې پرتي وي چي ورغلي خلګ يې وخوري.ماشومان په ډلوډلوکورونوته ورځي اوځانونوته ميوې ټولوي،ځوانان دميلواومحفلونوپه کولوبوخت وي،نوي کالي يې اغوستي وي.

په لوی اخترکي هرڅه دکوچني اخترپشان دي خويوفرق لري هغه داچي په لوی اخترکي دلمانځه وروسته به قرباني کوي خوداپه کمکي اخترکي نسته.

کوزده:-دهلک اوانجلۍ دپلرونولخوادهلک اوانجلۍ په وکالت ايجاب اوقبول دی چي نکاح دخطبې پرمهال په عيني ډول صورت نيسي اوشاهدان موجودوي.

مهر(ولور):

-داهغه مبلغ پيسي دي چي دهلک ددوستانوله خوا دانجلۍ دوستانوته دانجلۍ دمهرپه نوم ورکول کيږي.

يابه شرعي مهروي چي لس دراهمونه اويايې بديل دی.يابه مهرمثل وي چي دوخت په غوښتنه اورواج وي ،يابه هغه وي چي دواړه اړخونه ورباندي په خپلوکي قناعت وکړي.

بابيړی:

-داهغه مبلغ پيسې دي چي دتعين سوي مهرڅخه ماسيوايې دانجلۍ پلاردخپلي خوراکې په نامه غوښتونکی سي.

پښه خلاص:-کله چې زوم دولورپيسې ژرنسي اداکولای نودزوم قربيان دناوي پردوستانومرکه سي اودناوي په کورکي دزوم اوناوي دګډوزوند پرپيل سره رضاسي ،اوديوه خاص محفل په جوړيدلو يې عملي بڼه ورکړي.داپښه خلاص بولي.خوترواده اوولورادا کيدلوپوري ناوې دزوم کورته دورتللواجازه نه لري يوازې زوم اجازه لري چې دناوي کورته ولاړسي.

واده:-کله چې ولوراداسي نودناوي دوستان دهغوشيانوسره چې دناوي دواده کيدواوکورلپاره يې ورته تيارکړي وي يولوی محفل جوړکړي اوبيادوه شاهدان راسي اودناوي لخواوکيل ټاکلوپراقراراودزوم لخواوکيل ټاکلوپراقرار شاهدان واوسي.بيادمسجدامام خطبه ووايي، اودوکيلانوترمنځ دناوي اوزوم لپاره ايجاب اوقبول وکړي.بيادعاوي وسي اوورپسې ناوې اودکوراسباب دواړه دزوم سره راغلودوستانوته وسپاري اوټوله په ګډه دزوم کورته ولاړسي.

طلاق:-

داتوری په هغه صورت کي چې زوم دناوي سره خوښ نه وي دزوم لخواناوي ته ويل کيږي اوبيايې ترمنځ بيلتون راځي.

دفضليت بګړی:-داهغه نوې لنګوټه ده چې دخاصومراسموپه ترڅ کي دقرائتّ ،حفظ اويادعلم څخه دفراغت پرمهال دهرعالم لخواديوه يوه ول دورټولوپه ترڅ کي دفراغت دسندسره وفارغ ته ورکول کيږي.دامحفل په تلاوت،نصيحت اونعتونوويلوزيات تودساتل کيږي.

نشره:-داهغه په ترکيب بنده صنعت جوړه سوې اوږده تفريح نامه ده چې دکورڅښتن ته يې دزوی دپيداکيدلوپه مبارکي کي دحجرې طالبان يانوردترنم څښتنان وايي اوخلګ ورباندې راټول وي.

ددوهمي برخې دوهمه برخه ددې لپاره چې بحث يې اوږد نسي دلته رانغاړو

اوپای ورکوو.

دریمه برخه

دکتاب په ځینو ځایونو کي دځان لخواعذرورړاندي کول.

دکتاب په لیکلوکي ،اودمعلوماتوپه راغونډولوکي یې ډیروورونوزماسره مرسته کړې ده خولابیاهم شایدځیني کمیاني به په کتاب کي ولیدل سي ځکه ځیني داسي ورونه وه چي ماورځخه معلومات غوښتي وه هغوی رانه کړه یابه نه وه توانیدلي یابه یې زماپرهلوځلوپردیوته دخدمت فکرکاوه په هرصورت هرڅوک اودهغه زړه.

ماترخپله وسه دغه راټول سوی معلومات هلمندي اوافغاني اولس ته وړاندي کړ.

دلوستونکو لخواکه چیري په کتاب کي کمیاني محسوس سي مادي معذوربولي.

په درنښت

پای

